PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

دجهاد هنداره

مراة الجهاد

لومړی کال ۳۸ گڼه ، چهارشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش کال دجوزا (۸)

مجاهدین طی یک عملیات وسیع بیش از (۱۰) پوسته رژیم کابل رادرولایت کندز فتح نمودند

دفـتـرنـظـامـی شـورای قـومـانـدانـان بـه نـقـل ازیـک راپور ارسالی ازولایت کندز خبرمی دهد ، ٦ پوسته رژیم ملحد کابل مستقر درمحلات تلوکه ، الچین ،اوقمانزی، زرخرید ، قلعه تپه ، ذاخیل قدیم وچهارپوسته فرعی .درهفت کیلومتری شهرکندز طی عملیات وسیع بتاریخ (۲۷)ثور بدست مجاهدین افتاده و(۱٦) تن ازنظامیان رژیم به اسارت درامدند .
طبق راپوردرجریان عملیات یک صاحب منصب با (۱۰)

درصفحه ۷

دتـــخــارولايــت د «ينگي قلعه» ولسوالي هم فتحه شوه

دکابل په هوایی ډګرکی درژیم یوه الوتکه اود اوراګان یوه دستګاه تباه شوه

دکابل ولایت دخواجه رواش په هوایی ډګر کی دمجاهدینو ددرندو وسلو په ډزو درژیم یوه الوتکه اوداوراګانو یوه دستګاه داورلمبه شوی اودځارنی (۲۳) عملیه یی وژلی شویدی .
دقوماندانانو شورادفتر دجهاد هنداری خبریال ته رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دثورپه(۳۱) مه نیټه دکابل ولایت دخواجه رواش په هوایی ډګرباندی ددرندو وسلوپه ډزو سره په هوایی ډګرکی ولاړه یوه الـوتـکـه داورلمـبـه کـړی او یوشمیر نوری الوتکی یی زیانمنی کړی دی .
رپوټ وایی چی په دغه بریدکی درژیـم (۲۳) تـنـه عـسـکـر اومنصبداران هلاك اوژیل شوی اوهم دهوایی ډګر دالـوتـکـو دتم کیدلـو دوه ګراجونه اوداوراګان توغندیو یوه دستګاه اویوموټر تخریب شوی دی .

دربلخ ٤۳ تن از افراد نظامی هلاك و ٤۷ تن دیگر مجروح گردید

طی عملیات جداگانه مجاهدین درنقاط مختلف ولایت بلخ ٤۳ نفر افراد نظامی بشمول سه نفر از صاحب منصبان رژیم کابل هلاك ٤۷ تن دیگر مجروح گردیده است
یك منبع مجاهدین به میدیا گذارش داد که مجاهدین بروز ۳۱ ثور بالای کاروان نظامی ملیشه های جوزجانی که از مرکز ولایت بلخ به طرف غرب ولسوالی چهاربولك حرکت میکرد درمنطقه قریه شورتپه حمله نموده ودرنتیجه ۳ نفر صاحب منصب و ۷ نفر ملیشه رژیم را هلاك و ۱۵ نفر دیگر با ۱٦ میل اسلحه مختلف النوع به اسارت خود دراوردند .
همچنان طبق یك خبر دیگر مجاهدین به روز اول جوزا بالای پوسته های امنیتی شهر مزار شریف حمله بی تعرضی نمودند که در نتیجه ان سه پوسته تخریب،۱۵ نفر افراد نظامی رژیم هلاك و ۲۲ نفر دیگر زخمی گردید .
منبع علاوه نمود که درین نبرد دو نفرمجاهدین شهید و پنج تن دیگر مجروح گردیده است .
طبق گزارش مجاهدین ولایت بلخ بتاریخ ۳۰ ثور بالای کندك قلعه عمر احمد چوپان واقع دامنه کوه البرز عملیات کردند که در نتیجه جنگ دوشبانه روز ۱۸ نفر ملیشه رژیم هلاك ۲۵ نفرد یگر شان مجروح شده است .
منبع می گویددرین نبرد پنج تن از مجاهدین شهید وسه تن دیگر مجروح گردیده است .

په کاریزمیر اوبهادام باغ کی دمجاهدینو عملیات

دقوماندانانو دشورا نظامی دفتر دجهاد هنداری خبریال ته رپوټ ورکړ چی مجاهدینو دثور په (۲۷) مه نیټه دکابل ولایت دپغمان ولسوالی دبادام باغ په قرارګاه باندی ددرندو وسلو په ډزو سره درژیم (۲) عـرادی ټانکونه ویجاړ کړی او(٤) تنه عسکر یی وژلی او(۲) تنه نوریی ټپیان کړیدی .
دغه شان خبر ځای زیاتوی چی مجاهدینو دثورمیاشتی په (۲۹) مه نیټه په قرغی اوکاریزمیر کی دکمونستی رژیم په مرکزونو باندی ددرندو وسلو دډزو په نتیجه کی دقرارګاه دځارنی (۵) عسکر دیو منصبدار په شمول وژلی او(٦) تنه نوریی ټپیان کړی دی .
درپوټ مطابق په دغه بریدوکی مجاهدینو ته کوم ځانی زیان نه دی اوریدلی .

بدنبال فتح خوست چند تن از جنرالان کهنکار رژیم ملحد کابل دوباره به وظایف شان گماشته شدند

کابل ، میدیا :
خبر نگار اعزامی میدیا از کابل گزارش میدهد ، بدنبال فتح خوست بدست مجاهدین ، چند تن از جنرالان سابقه دار ومورد اعتماد نجیب رئیس رژیم کابل که بنا بر عواملی مدتی از مقام خویش دور ساخته شده بودند اخیرا باداشتن صلاحیت اعدام مجددا به ولایات مورد نظر اعزام گردیده اند .
طبق راپور از جمله جنرالان با صلاحیت نورالحق علومی به ولایت کندهار ، نبی عظیمی به لوگر و گردیز افضل لودین به ولایت ننگرهار ، لغمان ، وکنرها روف بیگی به ولایات شمال کشور وجمعه اخك به ولایت بلخ که درسرحد روسیه می باشد دوباره به وظایف اولی شان گماشته شده اند .
راپور می افزاید جنرالان مذکور صلاحیت یافته اند تا درصورت صوابدید ، بدون مشوره حکومت کابل امراعدام را درولایات صادر و عملی نمایند .
به گزارش خبرنگار میدیا از جمله به جنرال نورالحق علومی مشوره داده شده است بخاطر جلوگیری از سقوط احتمالی ولایت کندهار بدست مجاهدین که هم اکنون تحت ضربات شدید قراردارد ، از هیچ کاری حتی کشتار مردم و بمباران های هوایی علیه مواضع مجاهدین وسایر مناطقی که لازم دانسته شود فروگذاری ننماید .
لازم به تذکر است که عده زیادی از هموطنان ما قربانی صلاحیت های بی حدوحصر مسوولین رژیم ملحد کابل دربسیاری از نقاط کشور شده اند که همزمان باتقرر مجدد جنرالان مذکور انجام گرفته ومیگیرد .

عملیات پاکسازی مناطق مختلف مرکز بغلان ازوجود کمونست ها

بغلان ، میدیا :
طبق گزارش یك منبع جهادی به میدیا مجاهدین ولایت بغلان روز ۲۹ ثور بالای مرکز بغلان عملیات را انجام داده و چند منطقه را به تصرف خود دراوردند
گزارش می افزاید که درجریان این نبردبیش از ۱۲ قریه ازوجود کمونست ها درمرکز بغلان پاکسازی گردیده صد ملیشه اسیر ۳۰ تن هلاك و ۲۵ تن دیگر بدست مجاهدین مجروح شده اند.

روسی پوځونو دلیتوانیا او لتویا په ګډه پوله کی دګمرګ مراکز ته اور ورته کړ

لندن ، رویټر اژانس :
دبالتیك دساحلی جمهوریتونو لیتوانیا اولیتویا مقاماتو دروسیې دکورنیو چارو وزارت په استول شویو پوځیانو باندی تورلګولی چی هغوی ددی دووجمهوریتونو په ګډه پوله کی دګمرګ ۹ مرکزونو ته اور ورته کړی .
دروسیی دجمهور رئیس ګرباچوف په نامه په استول شویو تلګرامونو کی، ددواړو جمهوریتونو مقاماتو له خوا دروسیې دکورنیو چارو وزارت پردی کړو وړو باندی شدید احتجاج کړی اوهغی ته یی دلوټ مارو سبکاره حملی ویلی دی .
دخبرونو مطابق دروسیی دکورنیو چارو وزارت دغه خصوصی پوځی دستو دلیتوانیا اولیتویا ترمنځ په سرحدی ګمرکی مرکزونو ناڅاپی حمله وکړه ، اودګمرك مامورین یی ووهل ،بولې مهم اسناد یی غـلا کـړل اودغـه مـرکـزونـو تـه یـی اور ورتـه کـړ .

په ګردیزاوسیدکرم په ولسوالی باندی دمجاهدینو بریدونه

پکتیا، میډیا :
دپکتیا ولایت له مرکز ګردیزښار نه په رسیدلی رپوټ کی ویل شوی چی مجاهدینو دثور په (۲۹)مه نیټه ددرندو وسلو څخه په کار اخیستو دګردیز دښار پر پوځی مرکزونو برید وکړ چی دهغی په نتیجه کی دملحد رژیم دری تنه صاحب منصبان له (۱٦) تنو ملیشه ووسره مړه او پنځه تنه نورټپیان شوی اوهم دښمن ته درانده مالی تاوانونه اوریدلی دی .
دخبرځای دیویل خبر له مخی مجاهدینو دثورپه (۳۰) مه نیټه دپکتیا ولایت دسیدکرم په ولسوالی کی دقلعه پادشاه عسیمی پرپوستو ددرندو وسلو ډزی وکړی چی دهغی په اثر ددښمن دقواو یوه عراده ټانك دشپږوتنوسپرلیو سره داورلمبه شوی دی .
رپوټ زیاتوی چی دمجاهدینواوکابل رژیم دقواو ترمنځ پدی سیمه کی په سختی سره جګړه دوام لری .

درشهرکابل بیش از یکصد هزار تن مصاب به سالدانه میباشند

کابل ، میدیا :
خبر نگار اعزامی میدیا از کابل گزارش داده است که نسبت کثافت در میدان ها ،کنار جاده ها وپارك ها تعفن وبدبویی فضای شهر کابل را پرکرده بخصوص روز های افتابی اوقات ازار دهنده برای شهریان می باشد .
خبرنگار می افزاید ، انبارهای کثافات باعث شیوع امراض خطر ناك بخصوص ملاریا ولشمانیا (سالدانه) درمیان مردم شده است .
درحال حاضر کمتر شهری رامیتوان درین شهر سراغ کرد که درروی،پیشانی ، گلو ، دست وپا خوددانه لشمانیا نداشته باشد .
خبرنگار میدیا میگوید ، شفاخانه انتانی کابل تاکنون ازجمله ده ها هزار تن مبتلا به مرض لشمانیا (۳۰۰۰۰) نفر راتداوی نموده وبقول یکی از دوکتوران معالج این بیماری امسال انتظار مراجعه بیش ازصدهزارنفر مصاب به لشمانیا به این شفاخانه برده میشود .
طبق راپور خبرنگار مناطق سیدنور محمد شاه مینه ، پروژه تیمنی ، کارته پروان ، حصه سه خیرخانه ، گولایی پارك وشاه شهید درتالاب های از اب کثیف فرورفته وحیات ساکنین مناطق مذکور رابر علاوه ملاریا هزاران گونه بیماریهای خطرناك دیگر تهدید می کند .
وی می افزاید دوا وجود ندارد ، مرکز مجادله ملاریا نیز نسبت قلت دوا غیر فعال است ،همچنان نبودن مـرجـع شـکـایـت شـهـریـان کـابـل را درحـالـت هـردم شـهـیـدی ویـاس نـشـانـیـده است .

ایران دبلاستیکی میزائیلو کامیابه تجربه ترسره کړه

تهران ، دجوزا ٥ مه :
دایران حکومت دتیری اونۍ په اوږدو کی دمنځنی واټن ویشتونکو بلاستیکی میزائیلو کامیابه تجربه ترسره کړی .
نړیوالـو خـبـری اژانـسـونـو دامریکنی ذرایعو په حواله ویلی دی چی دغه مـیـزائـیـل دایـران دمقدس ښار قم څخه توغول شوی .
خبرونه وایی چی ایران دخلیج جګړی له ختمیدو وروسته دهرمز بندر ترڅنګ یو زیات شمیر درنده وسله او میزائیل یوځل بیا پرځای کړی دی .

سرمقاله

داستعمار ورروستی توطئه دملګرو ملتونو په واسطه

څو ورځی دمخه دملګرو ملتونو سرمنشی یوه اعلامیه خپره کړه اوپه هغی کی دافغانستان دربړی دحل په رابطه په پنځو مادو کی یو پیشنهاد وړاندی کړی ددغه پیشنهاد په رابطه دپاکستان دبهرنیو چارو سکرتر شهریار خان دیوی مطبوعاتی مرکی په ترځ دخپلی خوشبینی څرګندونه اوهرکلی کړی .
شهریار خان دخبریالانو دپوښتنو په ځواب کی ویلی دی چی دملګروملتونو دسازمان طرحه دهغو اصولو او ضرورتونو له مخی تشکیل شوی چی له سیاسی لاری دافغانستان دقضیی دحل په جهت کی موثر اولازم ګڼل کیږی لدی مخکی دملګرو ملتونو دسرمنشی داستازی بینند سوان پدی رابطه دسیمی څینو هیوادونو ته بولیسفرونه وکړل ، اوویل کیږی چی هغه پدغو سفرونو

۸مخ

داسلام ددښمنانو له خبرواوپیشنهادونو څخه دخیرتوقع نده په کاراوهغـه ته انتظار اوامید دجهاد اوملت په تاوان تمامیږي . (الحاج حقانی)

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

دتأسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

هندوئیزم داسلام یو خطرناک دښمن

محمد زبیر شفیقی

پرملحدانو ، یهودو اوصلیبیانو سربیره هندوئیزم او هندی پنډتان دمسلمانانویو بل ډیر خطرناک اوبی رحمه دښمن گڼلی شی ، دهندوانو په رگ رگ کی داسلام او مسلمانانو پرخلاف بیدریغه کرکی او کینی جوش خوړلی او اوس خو دهندوئیزم سترهدف او ستراتیژی په نیمه وچه او جنوبی آسیا کی دمسلمانانو له منځه وړل دي .

دتاسف خبره داده چی دهندی افراطیونو تربی رحمانه ناتار لاندی تیغ په تیغه (۸۰) ملیونه مسلمانان دمرگ او ژوند ترمنځ شپی ورځی تیروی چی نړدی دنړۍ دمسلمانانو لسمه برخه کیږی.

دهند په دننه کی چی پرون اونن دهندوانو لخوا پرمسلمانانو کوم ظلمونه اوستمونه روان دي له هغی نه بهرنی نړۍ ته ډیر کم افشا کیږی خو حقیقت دی چی په هند کی پر مسلمانانو داسی انسان سوزه مظالم روان دي چی انسانیت یی په یادولو شرمیږی ، اوکه ووایو چی په نړۍ کی ترټولو زیات مظلوم لړ کی دهند مسلمانان دي چی هره ورځ دهندوانو دظلم او زور په بټۍ کی سوځیږی بلکل حقیقت اوپرځای خبره ده .

خو بهرنی نړۍ یانه وربانډی خبریږی اویاهم ټول دمسلمانانو پرځوراودرد خوښ دي اوهمدغه خوښی یی پرخولو دسکوت مهرونه لگولی دي .

اوس هلته دهندوانو جسارت اوبی شرمی تردی حده پوری رسیدلی ده چی دمسلمانانو عقیده اوایمان نه تسلیموی اوهغه دهنددسالمیت اوسوکالی په لار کی خنډ گڼی ، دادی دمسلمانانو پرخلاف دافراطی هندوانو دعزایمو او اهدافو په باب له لاهور نه خپریدونکی «زندگی » اونیزی یوی ورروستی گڼی ځخه دیوه مطلب ځنی برخی خپلولوستوالو ته وړاندی کوو .

« آرایس ایس » سازمان چی هدف یی په هند کی دهندوانو واکمنی او راج دی اوپه هند کی دبل هردین ، عقیدی اوایدیالوژی مخالفت اونفی کوی له تیرو ۶۳ کلونو راپه دی خوا جوړشویدی .

ددغه سازمان مشر بابو دیوراس وایی :

«دهند مسلمانان اصلا هندوان وو هغوی باید هندوان شی اوبیا په هند کی ژوند ته دوام ورکړی .»

بابودیوراس له مسلمانانو سره دکینی اوعداوت روحیه دمور له غیږی نه اخیستی پخپله دی وایی چی ماته به می مور پر هندوانو دمغلی یرغلگرو اادیرغل اوتیری کیسی کولی اوزه وپوهیدم چی مغلو نه یوازی په زور زموږ هیواد « هند » لاندی کړلکی زموږ دهیواد بچیان یی په زور اوجبر له خپل دین اولاری ځخه « بی لاری !! » او مسلمانان کړل .

دیوراس وایی چی دهند دمسلمانانو نیکو نه په زور مسلمانان شویدی نوځکه اوس باید بیرته دهغوی لمسیان خپل پخوانی دنیکونو دین ته واړول شی .

له پورتنیو خبرونه په ډاگه ښکاری چی په اسام ، بهار ، اتراپردیش اودهند په نورو برخو کی دمسلمانانو له

په ۷ مخ

آزادخوست ته دحقانیه دارالعلوم داستاذانو سفر

سترگو لیدلي منظري اوتأثرات :

لیکوال : مولانا عبدالقیوم حقاني

ژباړن : ننگیال

دحقانیه دارالعلوم میاشتنۍ مجلې (الحق) دروان میلادي کال داپریل میاشتې په گڼه کې خوست ته دمحترم مولانا انور الحق په مشرۍ ددارلعلوم داستاذانو دسفر راپور تاژ خپور کړی چې موږ یې دالحق مجلې په مننه پښتو ژباړه درنو لوستونکو ته وړاندې کوو. (اداره)

داسلام نومیالی مؤرخ شکیب ارسلان کله چې دفاتحانو او ننگیالیو اوداسلام دځواکمنې کلا افغانستان په هکله دخپلې تاریخ لیکنی پړاو ته رارسیږي نو داوړ دخپل اسلامی غیرت ترځپاندو جذبو لاندی راځی چې ددغه تاریخي اولرغوني هیواد ټول ویاړمن ماضي اوتاریخ دهغه په وړاندې دریږي له همدې ځایه ده چې احساسات اوجذبات یې په مخه اخلي اوددغو جذباتو اواحساساتو داډول ترجماني کوي .

«زما دې پرخدای قسم وي چې که په ټوله نړۍ کې داسلام لمړوب شي اوددنیا په هیڅ یوه کنج کې هم داسلامی احساس وړانګې ونه ځلیږی نوبیا به هم دهمالیه اوهندوکش غرونو ترمنځ پرتو ولسونو کې اسلام هماغسې ژوندۍ اوتلپاتې بنه ولري اودلته داسلام عظمت او شوکت په خپل ځای پاتی وي » حاضر العالم الاسلامی ۲ جلد ، ۱۹۷ مخ .

هو !

په تیرو دوولسو کلونو کې قهرمانو اوننگیالیو افغانانو دشکیب ارسلان داخبره نوره هم رښتیا وگرځوله اودهغې دلا زیات عملي تصدیق ثبوت یې وړاندې کړ .

له نږدې ځخه ددغو ننگیالیو افغاني غازیانو دویاړمنو معرکو اوفتوحاتو اودخوست دفاتح الحاج مولوي جلال الدین حقاني دلیدنې اودهغه په وړاندې دمبارکی دمراتبو دوړاندې کولو اوداسلامي جهاد دجنگیالیو دښویو او قهرمانیو دلیدلو دبرکت او ویاړحاصلولو له پاره داکوړې ختهك دمدرسې استاذانو هریو ډاکتر محمد شریف ، حافظ سلمان الحق ، محمد اصف ، اواحقرکاتب الحروف دصاحب حق حضرت مولانا انورالحق په مشرۍ دفتحه شوي خوست دلیدنې اودخوست دفاتح حضرت

مولانا جلال الدین حقاني دنیکمرغه ملاقات له پاره دمیرانشاه له لارې دخوست په لور وخوځیدو، دماښام له لمانځه لږ مخکې کله چې دحقانیه دارالعلوم دچریکي گروپ مرکز ته نژدې شوونود تعرض گروپ قوماندان مولوی عالم گل حقاني چې دیوه روسي جنرال پوځي خولۍ یې په سروه کلاشنکوف په لاس زموږ مخې ته را روان شو هغه له لیرې ځخه موږپیژندلي وو کله چې موږ ته راورسید زموږ لاستړی مشي اوپه خیر راغلاست پای ته نه وو رسیدلی چې دخوست فاتح الحاج مولوي جلال الدین حقاني دمجاهدینو دیوه ستر کاروان په ملتیا دبړي په سیمه کې دحاجی خلیل له مرکز ځخه دلته راورسید .

حقانی صاحب وفرمایل زه سبا سهار وختی چی خپل کارونه پای ته ورسوم بیرته راگرځم تاسی به شپه دخلیل په مرکز کی زما په کوټه کی تیره کړی اوسبا به یو ځای خوست ته حرکت وکړو .

مولانا حقانی زموږ دملیمه پالنی په خاطر خپلو مجاهدینو ته ډیره سپارښتنه وکړه دماښام لمونځ مو دچریکی گروپ په مرکز کی ادا کړاوله هغی ورروسته دخلیل دمرکز په لور روان شوولو موږسره مولوی عالم گل حقانی ، مولوی رحیم الله حقانی اومولوی عنایت الله حقانی هم ملگری وو ، هلته دحقانیه دارالعلوم پخوانی فاضل او دخوست دفاتح الحاج مولوی جلا ل الدین حقانی مرستیال مولوی نظام الدین حقانی له

دخوست فاتح مولانا انور الحق ته وویل : ما دخلیل په مرکز کې ستاسې انتظار کاوه خو دمخابرې له لارې معلومه شوه چې تاسې میرانشاه ته ناوخته رارسیدلي یاست ماغوښتل چې زه خپله میرانشاه ته ستاسې هرکلي ته درشم اوسبا یو ځای خوست ته راستانه شو سبا په خوست کې دسیمې دقوماندانانو شورا ده ځکه خو زموږ هلته تلل ضروري دي .

چریکي گروپ تېنګارکاوه چې موږله هغوی سره پاتې شو ځکه خوموږ حقاني صاحب ته عرض وکړ چې تاسې میرانشاه ته ولاړشی اوهلته خپل کارونه پای ته ورسوی موږبه که خدای کول سبا خوست ته روان شو اوهلته به مو ملاقات وشی .

مخکی نه دخپل صاحب حق اودهغه دملگرو دلیدلو اوهرکلی انتظار کاوه ، هغوی دپښتنودځانگړتیاوو اورواياتو له مخی زموږ ډیرپرتمین هرکلی وکړ مجاهدینو ډیره خوندوره دوډۍ تیاره کړی وه له ډوډۍ خوړلو وروسته تر نیمو شپو پوری مو په حقانیه دارالعلوم کی دتیرو خاطرو اودحضرت مولانا عبدالحق (رح) دځلانده یادونو په راسپړلو اودخوست دجگړی اوفتحی په رابطه په خبرو او مجلس ډېر ښه وخت تیر کړ ، الحاج مولوی نظام الدین حقانی دحضرت مولانا عبدالحق (رح) اومولانا محمد علی مرحوم له تدریس اوملاقاتونو ځخه خپلی نیکی خاطری بیانولی اوموږ

تهولوتری خوند، درس اوعبرت اخیست .

شپه مو دمولانا جلال الدین حقانی په ځانگړی کوټه کی چی دیوه غره په تتړ کی یی له ډبرو ځخه جوړه کړی وه تیره کړه .

پردوهمه ورځ موږ خوست ته حرکت وکړ دلاری په اوږدو کی داسی ونه ، کمر ، غر اوبل ځیزنه معلومیدل چی پرهغی ددښمن گولۍ نه وی لگیدلی دغرونو لمنی ، دښتی او ناونه دروسی وحشیانه بمباریو ژوندی ثبوت اوتصویر وړاندی کاوه ، دځمکی هیڅ برخه داسی نه وه چی ددښمن بمونونه وی ځیرلی .

داسبا بو او وسایلو خبره بیله ده خو داخلاص ، توکل اوپه الله تعالی داعتماد اونصرت واقعیت بیل دی اوهمدغه دافغانی غازیانو دفتحی اوبرلاسی رازونه گڼلی شی .

دخلیل په مرکز کی موله مجاهدینو ځخه دبیلا بیلو جگړوپه تیره دخوست دفتحی ډیری زیاتی حیرانوونکی کیسی واوریدی چی بیا موپرسبادخوست په لور دلاری په اوږدو کی دسرپه سترگو هغه ټولی منظری اوپیښی لیدلی کومی چی افغان مجاهدینو دخپل فاتح قوماندان مولانا جلال الدین حقانی ترمدبرانه قیادت لاندی دوینو او اور له سمندر ځخه په تیریدو دفتحی دساحل ویاړ ترلاسه کړی ؤ .

دلاری په اوږدو کی موددښمن هغه مورچل هم ولید چی ترټولو مخکی دالحاج مولوی جلال الدین حقانی ترقیادت لاندی دمولوی عالم گل په سرگروپی دحقانیه دارالعلوم طالبانو پردښمن برید وکړ اوهغوی یی ژوندی ونیول

په ۳ مخ

حقاني صاحب دراتلونکي په باب وویل: موږته دگردیز ، غزني ، جلال اباد اوکابل فتحه کول په مخه کې دي روس هلته دخپل مزدور رژیم قطعات ښه ډیر تقویه کړي دي دورځې ۸۰ الوتکې له روسیې ځخه دغو ځایونو ته وسلې او مهمات رارسوي خوتاسې ولیده چې خوست دروسي الوتکو هدیره جوړه شوې دخوست په فتحه کیدو الله تعالي پرموږ ډیر زیات احسان وکړ مجاهدینو ته ډیره زیاته وسله په لاس ورغله چې په نورو جگړو کې ترې اغیزمنه استفاده کولی شي

آزادخوست ته دحقانیه دارالعلوم ...

هغه ښنګرموهم ولید چې حاجی علی ګل دخپلو ملګرو په ملتیا ددښمن ۱۶۰۰ پوځیان وسلی غورځولو ته اړکړی وو چې رښتیاهم داسلام دعظمت اودجهاد معجزه ګڼلی شی.

اوکله چې لدغو ۱۶۰۰ تنو پوځیانو څخه ددوی دتسلیمی پوښتنه شوی وه نودخپل ذلتبار شکست په رابطه یې ویلی وو :

دغه لس مجاهدین خو موږ ته په زرګونو مجاهدین ښکاریدل موږته هربوټی اوهره ډبره ټوپك په لاس مجاهد معلومیده .

له مجاهدینو سره ۹ ټانکونه ووچې ۳ یې خراب ووخوله دښمن سره ۸۰ ټانکونه ووخو کله چې له فتحی وروسته له نیول شویو افسرانوڅخه پوښتنه وشوه نو یوه نیول شوی جنرال وویل : موږته له څلورو خواونه دمجاهدینو ټانکونه دپرمختګ په حال کې ښکاریدل اوهری خواته موچی کتل هرڅه ټانکونه ټانکونه ښکاریدل .

له مازیګر وروسته کله چې دخوست دفاتح الحاج مولوی جلال الدین حقانی دتشریف راوړلو خبره خپره شوه ،نو دلته دمولانا حقانی دجلال اوجمال دعظمت ددنیاننداره دلیدو وړوه ، دخوست فاتح چې هری خواته تشریف ووړ نو په هوایی ډزو یې پرتمین هرکلی کیده ، دخوست فاتح په وار وار داهیله څرګندوله چې مجاهدین دې دده دهرکلی په خاطر له هوایی ډزو څخه ډډه وکړی خو دمجاهدینو داحساساتو څپی داپلیدو نه ښکاریدې.له قضامازیګره ترماخستن پوری پرتول خوست دمولانا حقانی داستقبال اوعظمت یوه نه هیریدونکی کیفیت لمن غوړولی وه دخوست دفاتح په لیدو دامام شامل اوسیداحمد شهید دجلال اوعظمت دحقیقتونو بیلا بیل اړخونه دسړی مخی ته دریدل .

له ماښام وروسته دخوست دپوځی چاونی په لور مولانا حقانی دخپلو قهرمانو اووسله والو مجاهدینو له برم اوپرتم څخه مالا مال کاروان په سر کې دمولانا انور الحق اودهغه دملګرو ځای ته تشریف راوړاوپرسبا یې دمفصل ملاقات یادونه وکړه ، پدې وخت کې دقوماندانانو دګډی شورا غړو نه جوړیدونکی وه اودوی دشوراله پاره ټاکلی قرارګاه ته تشریف یووړ.

زموږ دملګرو وړوکی قافله دخوست په هره پیڅه وګرځیده هوایی ډګرونه دروسی ویجاړو شویو الوتکو هدیری دخوست دخونړی جګړی مختلف محاذونه ، پوځی تاسیسات داهرڅه مو ولیدل له مجاهدینو سره موددجګړی اوله فتحی وروسته پیښو اوجریانونو په رابطه خوندوری خبری وکړی موږله دغو لیدنو کتنو څخه دعبرت ډیره زیاته ذخیره اوپانګه ترلاسه کړه اوتردې تولو زیات داچی دالله تعالی په عظمت اوابدیت موایمان اویقین نورهم پیاوړی اوځواکمن شو ، اوهمدارنګه پرانسانی کمزوریو اودنیوی مظاهرو مودفریب اودوکی خوړونکو پر انجام باورنور هم پوخ شو.

له هغو غټو سلطنتونو څخه مو باور وګرځیده چې دنفوسو په کثرت اوبنګلو اومادی وسایلو په قوت ویاړی اوپه کومو چې ددغو ځایونو واکمنو استوګنو اولیدونکو بشپړ باور درلود ، همداراز له مادی پیاوړتیا اووسایلو ، واکمنیو ، ماڼیو ، لویو لویو فابریکو ، قوی اوپراخه هیوادونو نه موهم باور واوښت ، موږپه دې فکرشو چې دنړی ددغو دبی شمری هیوادونو له تباه کیدو وروسته په نړی کې دموجودو سلطنتونو ، ښارونو او دتهذیب اوکلتور دمرکزونو څوك دخوندی ساتلو ضمانت ور کولای شی ، دپادشاهانو او امپراطورانو دانجام په نظر کې نیولو سره داسی احساس کیده چې داګرد دماشومانو لوبی او دستیج نقالی ده .

واکمنی یواځی او یواځی هغه ذات لره ده چې هیڅ مثل اوساری نلری حاکم اعلی یواځی همغه (ج) دی دانورحاکمان داذردبټانو مثال لری اوبس .

چیرته هغه دحسن او ښکلاپه مریو پیبل شوی خوست او چیرته ددښمن په ګولیو ورانی ویجاړی شوی کنډری اودګولیو اوبمونو په اوروڼو سوځیدلی وسایل یواځی دالله (ج) نوم پاتی کیږی.دشپی او ورځی رادبره کول دهغه (ج) په واك کې دی اوهمدارنګه دزمانی ګردش دهغه (ج) په

اختیارکی دی تلك الایام نداولها بین الناس

هو !

دیارلس کاله کیږی چې

هو !

دیارلس کاله کیږي چې افغان مجاهدین له مدرنو ټانکونو ، الوتکو ، میزایلو او وژونکو وسلو په وړاندې دخپل ایمان اوارادي له مخې مقابله اومقاومت کوي اودادي اوس یې دوسایلو اوافرادُله کمښت سره سره دخوست فتحې له امله پرتمینه اوستره کامیابي وګټله او داسره لنډې چې مجاهدینو نه دوسایلو له پلوه څه برتري درلوده اونه دوسلو اوافرادو له اړخه .

افغان مجاهدین له مدرنو ټانکونو ، الوتکو ، میزایلو او وژونکو وسلو په وړاندی دخپل ایمان او ارادی له مخی مقابله اومقاومت کوی اودادی اوس یې دوسایلو اوافرادوله کمښت سره سره دخوست فتحی له امله پرتمینه اوستره کامیابی وګټله اوداسره لدې چې مجاهدینو نه دوسایلو له پلوه څه برتری درلوده اونه دوسلو اوافرادو له اړخه .

مجاهدینو له خپلو مرکزونو اوسنګرونو ډیرلیری په رڼه میدان له دښمن سره دهغو په پخو مورچو کې په مقابله لاس پوری کړدمجاهدینو په مخه کې نه خو دنقل اوحرکت محفوظی لاری موجودی وی اونه هم دغذایی موادو او مهماتو درسولو کومه پشتوانه اومرستندویه ځواك.ددوی دپرمختګ په لاره کی ددښمن له خوا په زرګونو مینونه اوبمونه فرش اوغوړول شوی وو ددوی په وړاندی دبمونو اومینونو وسپنیز جالونه غوړیدلی وو خو مجاهدینو پر الله تعالی بشپړه بروسه درلوده دخدای په لارکی دجهاد هرقدم هغوی عبادت ګنی پدې لارکې مرګ اوژوند هغوی ته یو شان بلکی شهادت غوره ښکاری ځکه دهغوی په نزد شهادت ابدی اوجاودانی ژوند ګڼلی شی .

شاعروایی :

دحبیب درضا په لار کې مرګ مرګ ندی بلکی هغه دتهول ژوند نچوړاوحاصل ګنلی شی .

په هرحال دتهولی ورځی له ګرځیدو مصروفیتونو او له لږ څه استراحت وروسته سبا سهار یو موټر راغی اودخوست په چونی کې یې دحضرت مولانا جلال الدین حقانی داوسیدو کوټی ته ورسولو کله چې موږدمولانا کوټی ته ننوتلو که ګورو چې یو ستر اوعظیم جنرال اودلکونو زړونو بی تاجه پادشاه په یوه زړه سطرنجی اویوه سپیره کوټه کې دحق دعظمت او جلال مشالونه بل کړی اودالله تعالی په دربار کې په ډیره عاجزی دقران کریم په تلاوت مصروف دی له تلاوت اودعا وروسته له خپل ځای څخه ولاړ شو له موږسره یې په ډیره مینه ستړی مشی وکړه دسهار دچای او ناشتی وخت ۋ دسترخوان وغوړول شو اودپاسه پری سړی او وچی ډوډی،اوشین چای کیښودل شو داسی چې په پاکستان به یې له غریب نه غریب شخص هم خوړولو ته څه چې لیدلو ته هم زړه ښه نکړی خودخوست فاتح اودهغه دجنګیالیو ملګرو دجګړی په ډګر کې داهمیشنی خوراك ۋ سبحان اللهٔ الله تعالی پدغه وچه اوسړه ډوډی،اوچای کې دومره خوند او مزه ایښی وه چې پوښتنه یې مه کوی زما په خوله کې لااوس هم دهغه خوړوالی اوخوند موجود دی .

پدې وخت کې مولانا انورالحق دخوست له فاتح سره اوږدی خبری وکړی چې دهغو ځینی برخې دیوی مرکی په بڼه درنو لوستونکو ته وړاندی کولی شی .

دخوست فاتح له مولاناانورالحق سره دخپلو خبرو په ترڅ کې وویل :

دخوست جګړه دمبارکی روژې په لومړی ورځ پیل شوه او پنځلس ورځې یې دوام وکړ - پدې اړه ښایی ووایم چې موږ دجنګی ستراتیژی په توحید او پلان جوړ ونه بـاندی لـه ډیری مودی راهیسی کاروکاوه زموږ پروګرام ۋ چې پردښمن له هوا داکمالاتو لاری بندی کړی شی دپتمی اوغلاهغه لاری چې له پاکستان څخه هغوی ته ځنی اکمالات رسول کیدل هغه هم پری وتړل شی پدې ډول به دښمن دمحاصری په کړی کې په تنګ او تسلیمیدو ته یه اړشی .

موږ پوره څلور میاشتی دجنګ پرپلان او نقشه کار وکړ پدې موده کې مو دخپل پرمختګ لاری هم صفا کولی او مورچی او سنګرونه موهم جوړول څرنګه چې په خوست کې په هواره ځمکه کی له دښمن سره دمجاهدینو مقابله وه او مجاهدین په آسانی سره دهغوی تر هدف لاندی راتلل ځکه خو موږ دخندقونو په کیندلو لاس پوری کړ او دغه ور مو دپرمختګ لپاره دځمکنیو لارو په جوړولو پیل وکړ خو دښمن ته زموږ ددغو فعالیتو نو پته لګیدله'له همدی ځایه وه چې دښمن هم خپل قوت او دفاعی کمربندونه پیاوړی او زیات کړل ډیری زیاتی وسلی او مهمات یې ذخیره کړل زیات ترتیبات یې ونیول، له کندهار او نورو سیمو څخه یې وسلی ،مهمات او نور دضرورت وړځیزونه انتقال او دلته یې ځای په ځای کړل .

دالله تعالی نصرت وو چې دجنګ له پیل څخه هره ورځ دښمن په شاتګ ته مجبور کیده او ددوی مهمات او غذایی موادو دمجاهدینو لاس ته ورتلل ، موږ مجاهدینو ته اجازه ورکړی وه چې دضرورت وړخوراکی مواد او دفوری استعمال وړ وسلی په غنیمتی وسله او موادوکی ګډه نه کړی او له ځان سره یې واخلی دې خبری دکار په پرمختګ کې ښه رول ولوباوه .

دالله تعالی فضل ۋ چې دجنګ په جریان کې وریځو او باران مجاهدینو ته ډیره ګټه ورسوله ، الوتکی نشوی کیناستلی او همدارنګه هدف یې هم په سمه تو ګه نشوی ویشتلی له همدی امله ۋ چې دښمن باران او وریځو ته هم ښکنځلی کولی او ویل یې چې زموږ په ماتې کې دباران او وریځو هم لاس ۋ.

حقانی صاحب وویل :موږ ټولو پوځیانو ، افسرانو او جنرالانو ته معافی اعلان کړی چې هغوی به په پخوانیو اعمالو نه محاکمه کیږی او تر هغې چې مجاهدین له دوی څخه مطمئن شی چې بیرته له مزدور رژیم سره نه یوځای کیږی له مجاهدینو سره به دمیلمنو په تو ګه او سیږی دجګړی په جریان کې له مجاهدینو څخه د۱۵۰-۱۶۰ تنو په شاوخوا کې شهیدان شوی پدې کې زیاتره هغه مجاهدین هم شامل دي چې له فتحی وروسته داستحکامی عملیاتو په جریان کې دپرسونل ضداو دغه ډول نورو بمونو او ماینونو په واسطه شهیدان شویدي چې (۱۷) تنه دسکډمیزائیلو په لګیدلو شهیدان شویدي .

موږ دا خبری دسهار دچای پروخت کولی پداسی حال کې چې پرونی وچه کلکه ډوډی او بی شیدو چای دخوست فاتح امام شامل ثانی په ډیر ه مزه او خوند څښه موږ میلمانه هم ډیر خوشحاله وو چې داسلام دیوه ستر جنرال دداسی مخلصانه میلمستیا ویاړ موټر لاسه کړی پدې وخت کې دسویډن کمیټی نماینده راغی او دملاقات اجازه یې وغوښته دخوست فاتح په ورین تندی هغه دملاقات له پاره ومانه دسویډن کمیتی نماینده وویل : زه ستاسی آزادی خاوری (خوست) ته په راتلو له اندازې زیات

په ۶ مخ

شکیب ارسلان لیکي :

«زما دي پرخداي قسم وي چي که په ټوله نړۍ کي داسلام لمرډوب شي اوددنیا په هیڅ یوه کنج کي هم داسلامي احساس وړانګي ونه ځلیږي نوبیا به هم دهمالیه اوهندوکش غرونو ترمنځ پرتو ولسونو کي اسلام همغسي ژوندي او تلپاتي بڼه ولري اودلته داسلام عظمت او شوکت په خپل ځاي پاتي وي »

جهادي ادب

چي موږ مات کړ نو په ټول جهان کې مات شو
روس په چيغو په فرياد اوپه هيهات شو
دافغـــان غـــازي دتـــوري بـــركـــت ؤ
چي نسكور دكمونيزم سومنات شو

زما دزړه دزخم هره موسکا لاره څاري
زما دقام ديوه روښانه سباوون په مينه
داسکيرلي خونځپال ولس دوينو څپې
غورځي دخپلو تقديرونو دبدلون په مينه

*** ***

موږ روان يو دمنزل درون سفرپه لاره
دتورو شپو په زړه کې پيل دسحرپه لاره
لاس يې ازاد موږ دتياروغلو ته په ډاگه وايو
زموږ ژوند ټول له يوه مخ دی دخطرپه لاره

*** ***

ديو كارعيش اونوش هوسراني وي
دبل كار مجاهده وي قرباني وي
خطراتو نه هغه كله ويريږي
چي يې برخه دتاريخ قهرماني وي

*** ***

بې تميزه خدايږو سترگې دجهان دي
ډير ليوان شته چي په بڼه دانسان دي
حقيقت چي كاندي څوك له پښو لاندې
كه ميږي هم ازار نكړي ظالمان دي

يوه رښتيانې كيسه :

دشهادت په وينو

محمد هاشم « رحيمي »

دكبير هوټل اوس داسې ښكاريدو لكه دمجاهدينو يومركز ، هلته به هروخت دمجاهدينو گڼه گونه و، دسيمې له مجاهدينو پرته دنورو سيمو مجاهدين به هم ډير ورتلل دورځې له خوا به چې دمجاهدينو كوم گروپونه راغلل په دې هوټل كې به يې اړول ورځ به يې تيره كړه او چې څنگه به شپې خپله توره پرده وغوړوله دوی به دبدلا په كوتل ورنيغ شول ، داډيره دخطر څخه ډكه لاروه .

دڅاځيوچونې ددې لارې په څومترۍ كې پرته وه ډيرو مجاهدينو ددې لارې له لاسه خپل ارمانونه دځان سره گورته يوړل ، څنگه به چې ماښام شو نوپردغې لارې به دمجاهدينوكاروانونه وخوځيدل شاولې به چې هرځای و خپل ځان به يې ماښام دكبيرهوټل ته رارساوه ځان سره به يې ويل ښايي كوم نابلد گروپ راغلی وي چې زه ورسره مل شم اودبدلا تركندو يې واړوم ده داكار دځان فرض گاڼه اوويل به يې چې نورووس خومې نه كيږي داخوځ دلاسه كيږي ، هغه به هروخت دنابلدو مجاهدينو سره روان اودبدلا له كندو څخه به يې اړول كوم گروپونه به چې دعملياتو په خاطر روان شول ده ته به هم څمكې ځای نه وركاوه اودځان سره به يې ويل كاشكې زه هم ورسره تللی وای چې داخپل زړه مې پرې تش كړی وای .

كبير ته به يې هروخت ويل هوټل طالب ته پريږده راځه چې زه اوته هم ورسره ځو هروخت به يې دپلار سره شور و چې جهاد ته ځم خو دپلار خوښه يې نشوه لاس ته راوړی ، پلار يې گرم هم نه ؤ ځكه يواځينې هيله يې وه پلاريه يې ويل خدای مكړه كه داهم شهيد شي زه به څه كوم په پلار باندې يې ډيرې خوارۍ او تنگۍ تيرې شوې وې دشاه ولي مور ډيره پخوا په حق رسيدلې وه او يواځې شاه ولي ترينه پاتې وو پلاريې دی ډير په خوارۍ او تنگسي رالوی كړی وو ، خو شاه ولي باندې دپلار خبره نه لگيده پلاريې مجبورشو كبير ته يې وويل دې هلك ته تاسو ووايې چې له دې كارولاس واخلي اوچې كله به كبير شاه ولي ته داخبره وكړه تك سور به واوښت اوپه قهرجنه لهجه به يې وويل :

بس نور به ماته داخبره نه كوې پلارمې چې هرڅه وايي زه يې ورسره منم خو داخبره هيڅكله هم ورسره نه منم چې جهاد ته به نه ځم .

پلاريې لا پخوا په دې ارمان و چې دخپل زوی واده په خپلو سترگو ووينې نو ځكه يې هغه ته واده وكړ.

همزولي يې چې خبرشول ډيرې ټوكې به يې ورسره كولې خوده به له شرمه څه نه ويل ورو ورو به سره موسكي شو، ټولو به ورته ويل :

گوره جهاد ته ډير مه ځه چې شهيد نشې خوده به دخپلو همزولو دخواهش رد ځواب په ترخه غوندې موسكا سره وركړ اوبيا به يې ددواړو لاسونو گوتې په يو اويل كې ويېرلې اوسوړ شانته اسولې به يې وكړ.

دروژې مباركه مياشت وه چې مزدور رژيم دروكيانو پركلي ډير سخته بمبارد پيل كړ دبمبارد له لاسه ټول كلي دخاورو سره خاورې شول خلكو ته په كلي كې ژوند گران ؤ سهار وختې به دكورونو څخه ووتل اودبېر سنگير تنگۍ ته به يې ځانونه رسول اوچې ماښام به شو بيرته به كلي ته راتلل بمباري څو اونۍ پرله پسې دوام وكړ او بالاخره خلك مجبور شول چې دپاكستان په لور هجرت وكړي دروكيان هغه دره چې هره خوايې شنه فصلونه اوباغونه لوړ اودنگ غرونه زيړې زيړې پرخې اوداوښكو په شان رڼې اوبه روانې وې ، اوس په كنډوالو بدل شوې و اواوس دجومات ترڅنگ دخلكو پنډې جمعي نه ښكاريدې په كورونو كې دغرمې تنورونو لمبې نه وهلې اودگودرپه غاړه دمنگوټو كتارونه نه ښكاريدل .

ډيره چوپه چوپتيا وه دهغو شنو فصلونو پرځای وحشي واښه راشنه شوي ؤ خودسپين جماعت مناره په خپل ځای ولاړه وه كه څه هم شاوخوايې ډير بمونه لويدلي وو اودټول كلي ښكلايې ځانته جلب كړې وه يواځې دخوړداو مستوڅپوداچوپتيا ماتوله .

كله كله به دمجاهدينو ډلې هم وليدل شوې چې دكلي په منځ كې به رواني او كتارونه به يې جوړكړي و .

دزين خان كورنې هم دمهاجرو دقافلې ملگري وه نورددې سمسور كلي اوسيدونكي دوچو ډاگونو ميلمه شوي ؤ ټولو دفراق څپيړې پرمخ خوړلې هرچاژوند تيرولو اويوې گولۍ مړي دلاس ته راوړلو په خاطر دكارخواته مخه كړې وه خو دشاه ولي دجهاد جذبې لا په غوړځنگ شوې وې دانتقام اوريې په گوگل كې ژبغړانده لمبې وهلې نويې دكورچارې سمبال كړې اودجهاد په نيت له كوره ووت دخوشحالي اثار يې په څيره كې له ورايه ښكاريدل په لاس كې يې دڅنگ له يوه بوډا سره داخبره بدرگه كړه ... نه انشاالله داسيمه به يې له شره خلاصه كړو په دې سيمه كې به ملحدين پښو ايښودلو ته پرې نږدو خولايې داخبره نه وه خلاصه كړې چې درز شو بم وچاوديد دوينو داري رواني شوې دلويو لويو ارمانونو زړه ټوټې ټوټې شو اودشاه ولي خان دجهاد جذبه دشهادت په وينو لانوره هم ښكلې شوه .

غزل

ددرويش دراڼي په ليكه : يوڼ

اسمان په برخه كړزما يوداسې ستړی سفر
چې هرسړي ؤ بس پر مخ ورسره وړی ، سفر
دسره ښامار تسمې مې وايستې مؤمن يم دوخت
مادوحشت په ښار به كې پرمخ كړی سفر
مړه مې ژوندي كړل ، په سفر شول ترمنزله ولاړل
څوك وايي داچې نشي كړای په دنيا كې مړی سفر
زه شوم روان پښې ابلې پښې په پولادي ميخونو
خودرهبرله يې لارې مې شو نيمگړی سفر
دارادې دنيلې ملونې به مې سسته نه شي
پرمخ يې غواړي دوجود مې هريو غړی سفر

پـه تيـر پسې

موږ په افغانستان كې څه وليدل ؟

په افغانستان كې دنيول شويو روسي عسكرو خاطرې

د عوض الدين صديقي زباره

، جگړه هماغسې روانه وه چې باران پيل شو اوكمونستي پوځ په تيښته شو .

په دې جگړه كې ډير زيات روسي او افغاني كمونستان ووژل شول اودمجاهدينو دوه ملگري دشهادت لوړې درجې باندې مفتخر شول د۱۹۸۱ كال په دسامبر مياشت كې محمد دين يوې ازادې سيمې ته را انتقال كړی شو تركومه وخته چې هغه دمجاهدينو په مركز كې وه ددين عالمانو هغه داسلام له اصولو سره اشنا كاوه او اوس هغه په هيڅ ډول روسي ته دتگ چمتوالی نلري .

دروسي پوځ په باب دهغه تجربې زياتې ژورې نه دي هغه وايي روسي صاحب منصبان اوپوځ په نړۍ كې ترټولو ظالم دي هغوی يواځې ددې په خاطر خپلو لاس لاندې افرادو باندې ظلم كوي اوهغوی ته سزا وركوي چې ددوی رعب اوډار پرې پروت وي دروسانو صاحب منصبان داسلامي ايالتونو له پوځيانو څخه سخت نفرت كوي او هيڅ داسې موقع له لاسه نه وركوي چې هغوی ته دې تاوان ورسوي په دې برخه كې هغوی داسې دليل وړاندې كاوه چې افغاني پوځيان په ورځ كې كمونست كيږي اوپه شپه كې بيا له مجاهدينو سره يو ځای كيږي روسي پوځيان تيښتوي اومجاهدينو ته يې سپاري .

محمد دين تركوم وخته چې دروسانو سره ؤ اوچې كله به يې دافغانستان په يوې سيمې كې دروسانو په لاس دكورونو دړنگولو صحنې وليدلې په زړه كې به يې پوښتنې خلق شوې ،ده يو ځل دپلخمرۍ په سيمه كې گزمه كوله چې وي ليدل زيات كلي دخاورو سره خاورې شوي ، او زيات كلي داسې هم ؤ چې دانسان بيخي نښه پكې نه وه ، هغه چې يو ځل دخپل يوه صاحب منصب څخه وپوښتل ايا په دې كليو كې كوم څوك ترنظر راځي ؟

ملگرې ځواب وركړ د كلي سړي يا مجاهدين شوي غرونو خواته لاړ دي اويا موږسره په مقابله كې ووژل شوي اودكلي سپين ږيري ، ښځې اوماشومان موږ له منځه وړي .

دمجاهدينو دچريكي عملياتو په برخه كې هم محمد دين عيني شاهد دی دادهغو ورځو خبره ده چې په كومو ورځو كې دپلخمرۍ په سيمې كې دروسانو يوه مركز كې دنده سرته رسوله ، دكابل څخه پلخمرۍ ته يو قطار چې سل پوځي لارې پكې وې راروان

په ٦ مخ

په افغانستان کې دکې ، جي ، بي ورانوونکي فعالیتونه

لسمه برخه :

داکسا ، کام ،خاد ، واد - تشکیلات ،فعالیتونه او جنایات

عبدالوکیل

«کې،جي،بي»لا پخوا په دې ټینګار کړی ؤ چې که چیرې دداؤد لخوا دمرکزي کمیټې اودګوند نورغړي نیول کیږي نویه هرډول چې وي باید دخلقیانو اوپرچمیانو هغه دوه کسان چې دنظامي څانګو مسؤلیتونه په غاړه لري ، خپل ځانونه داسې وساتي چې بندیان نشي .
دپرچمیانو دنظامي څانګې مسؤل نوراحمد نور ؤ کوم چې دثور کودتا څخه وروسته په لومړی کابینه کې دکورنیوچارو وزیر په حیث وټاکل شو او ویې کړای شول چې دپولیسو پواسطه دنیوني څخه ځان وژغوري خو داڅرګنده وه چې یوازې دپرچمیانو نظامي څانګې نه شول کولای دداؤد رژیم راوپرځوي اولکه څنګه چې په عمل کې هم ثابته شوه چې په کودتا کې یې دوهمه درجه هغه هم ډیر ضعیف رول ولوباوه .
دخلقیانو نظامي څانګې مسولیت د«امین» په غاړه ؤ اودپرچمیانو نظامي څانګې په نسبت یې کمیت ډیر ؤ .
امین دتره کی اوکارمل څخه یوه ورځ وروسته ونیول شو اودکابل ولایت جیل ته چې دپرچمیانو او خلقیانو دمرکزي کمیټې یو شمیر نورغړي هم پکې بندیان ؤ بوتلل شو.
د۱۳۵۷ هـ ش کال دثور ۷ نیټې څخه ځلور میاشتې وروسته امین (امین دکابل پوهنتون دساینس یا طبیعي علومو پوهنځی څخه فارغ اوماستري یې په امریکا کې تکمیله کړه) په هغه کنسرت اوغونډه کې برخه واخیسته چې دساینس (طبیعي علومو) پوهنځی لخوا دپولي تخنیک انستیتوت په ادیتوریم کې جوړه شوې وه .(په دی وخت کې امین په ظاهري ډول سره دبهرنیو چارو وزیر اودصدراعظم دمرستیال دنده په غاړه درلوده خوپه حقیقت کې دثور کودتا څخه نیولې بیادده تروژل کیدو پورې دنظامي قواوشریانونه
د د ه
وو) په دې غونډه کې

دخپلی بیانیې په یوه برخه کې داسې وویل : « په کودتا (امین انقلاب وویل) کی زما دمځکنیو قواؤ قوماندان همدلته حاضردی (امین دهغه نوم واخیست اوپه دغه وخت کی دامین دغه قوماندان چی داسلم وطنجار څخه عبارت ؤ دصدراعظم مرستیال اودمخابراتو وزیر په حیث وټاکل شوی ؤ) اودهوایی قواؤ قوماندان چې اوس دلته نشته (دامین دغه قوماندان عبدالقادر ؤ کوم چی په همدی وخت کې ددفاع وزیر په حیث مقررشوی ؤ)بریمن رول ولوباوه اوزه پردوی باندې افتخارکوم ».

دستور ذرنګرل شو او بیا زه نیول شوی وم تاسو به داپلان عملي کوی. امین په همدغه ورځ (دکودتا څخه یوه ورځ مخکې) ونیول شو او سباپه اتو بجو کودتا ته اقدام وشواو
کودتا داسی پیل شوه :
داؤد دپرچم اوخلق دیو شمیر غړو دبندی کیدو څخه وروسته دهغو افسرانو په نیولو پیل وکړ چې دخلقي اویا پرچمي په نومونو افشاشوي وواو دداؤد داستخباراتو سره یې شهرت موجود ؤ خو حالات داسی وو چې هغو خلقي اوپرچمي افسرانو چې دبندي کیلو احساس یې کاوه خپلو

اویو شمیر نورو جزوتامونو هم دکودتاچیانو په ملاتړفعالیت پیل کړ.
داؤد ته هم دخطر راپوررونه راتلل او دهمدې ورځې په سهار یې یو شمیر ټانکونه دارګ دامنیت پخاطر راوغوښتل . برسیره پردې دداؤد یوشمیر قواؤ دارګ څخه دباندې موقعیت ونیولو خو دداؤد له خوا ورته خبرورکړل شو چې یو څو ټانکونه دارګ مخې ته راځي اجازه یې ورکړی اما دداؤد دطرفدارو ټانکونو په نسبت دکودتاچیانو ټانکونه زر راورسیدل . دداؤد پلویانو دکودتاچیانو ټانکونو ته په دې اشتباه اجازه ورکړله چې البته دغه ټانکونه هغه دي کوم چې داؤد غوښتي ووکله چې دکودتاچیانو ټانکونه په ۹ بجو دارګ شرقي دروازې مخې ته ورسیدل په ارګ یې ډزې پیل کړې .
دداؤد پلوی قواو دټانك ضد راکټونو په واسطه په ډیر کم وخت کې اووه ټانکونه په سرو اوروتو کې پټ کړل اودکودتاچیانو غوښتې ترسبا سهاره پورې دارګ څیرمه ونو کې بندې اوراځړیدلې اودسوځول شویو ټانکونو اوسپنې اوځنځیرونه ترڅو ورځو پورې دارګ شرقي دروازې په مخ کې پراته وو.
دکودتاچیانو تعرضي حالت یې په ټپه ودراوه اما دکودتاچیانو نوې تقویتي قوا راورسیده اوجګړې په شدت سره دوام پیداکړ.خو ددریو ساعتو جګړې څخه وروسته داسې ښکاریده چې نور نو کودتاچیان مات اوتیښتې ته چمتو شوي دي.
داؤد هوایي قواو ته امروکړچې په نښنه شوي ځایونه بمباري کړي او ددولسو بجو په حدودو کې دوې جنګي الوتکې په لوړه الوتنه سره دکابل په ښار وګرځیدلې خوهیڅ بمباري یې ونکړه اما لږڅه وروسته دبګرام څخه دکودتاچیانو جنګي الوتکې راورسیدې اودداؤد دارګ په قواؤ یې بمونه وروغورځول همداوخت ؤ چې دکودتاچیانو مورال قوي اودداؤد قواؤ جنګي مورال یې کمزوری کړ .
نور بیا

> دداود پلوي قواو دټانك ضد راکټونو په واسطه په ډیر کم وخت کې اووه ټانکونه په سرو اوروتو کې پټ کړل او د کودتا چیانو غوښتې ترسبا سهاره پورې دارګ څیرمه ونو کې بندې اوراځړیدلې .

«امین »په دغه غونډه کې له کودتا څخه وروسته دلومړی ځل لپاره په علني ډول خوپه رمزکې وویل چې یو شمیر اشراف زاده ګان (مطلب یې کارمل اوډله یې وه) باید پوه شي چې دکودتا (امین انقلاب وویل) په مقابل کې دپرابلمونو پیداکول به دوی پخپله له منځه یوسي اوپه همدې غونډه کې ووچې په کابل پوهنتون کې دتره کی اوامین دلې په علني ډول څرګندې شوې اودامین دلې شعارونه ورکړل چې ژوندی دې وي دانقلاب سترقوماندان (دشعارونو په اخر کې به یې دامین نوم ورسره ذکرکاوه) په دی وخت کې واضح څرګندیده چې کارمل او تره-کی دواړو بایللي ده لاکن په ظاهره امین دتره کی څخه کلکه دفاع کوله او درهبر خطاب به یې ورته کاوه.
په همدې ورځ چې امین بندی کیږې دکودتا پلان یې ذکرشویو دو ونظامیانو ته وسپاره او ورته ویې ویل
په لاس کې چې که چیرې سبا تر اتو امین بجو پورې زما لخوا ښخه بل

کورونو ته دتللو څخه ډډه وکړه او په خپلو عسکري قطعاتو اوجزوتامونو کې دتیارسی په حالت کې وو اوکه چیری داؤد دهغوی دنیولو اقدام کړی وای نو مسلحانه مقاومت یې کاوه خوداسی ونه شول .
د ۱۳۵۷ هـ ش کال د ثور دمیاشتی په ۷ نیټه دپنجشنبې ورځ سهار داتو بجو څخه وروسته ترټولو مخکی دکودتاتور دوداولوګی دپلچرخي په خلورمه زغره واله لواکې پورته شو. په همدې ورځ سهارپه اتو بجو دنوموړی لوا کودتاچیانو «چوړك» وواهه اوټولو افسرانو ته یې غږ وکړ چې ددغې لوا دغونډلو تالارته راټول شي، کلمچ افسران راجمع شول نوکودتاچیانو په ټولو غیرکودتاکوونکوافسرانو پسې دنوموړی تالاردروازه قلف کړله اویو نفر مسلح افسریې ورته پهره دارمقررکړ، کودتاچیانو ټانکونه په ارامی سره حرکت ته تیاراود«ارګ» په طرف یې ور روان کړل ، وروسته بیا پنځلسمې زغره والې لوا

داستعمار وروستی توطئه ...

سیداحمد ګیلانی په لومړی سرکی داسی اظهارات ورانډی کړی چی ددیپلوماسی په ژبه هغه ددغه طرحی په وړاندی یو ډول رضایت اوتوافق ګڼلی شی چی په هغی کی دنجیب ترمشری لاندی دلنډی مودی لپاره دعبوری حکومت جوړیدل هم شامل دی .
خوبیا وروسته معلومه شوه چی حضرت صاحب پخپله خبره پښیمانه شوی اودغه وربی دنجیب ترمشری لاندی دهرډول حکومت جوړیدل دافغانانو له جهاد اوهیلو سره دښمنی وګڼله اوله بی، بی ، سی راډیو سره یی دخپلی پخوانی مرکی په هکله دهغه راډیو یو تعبیر سم ونه باله.
دخپرو شویو خبرونو له مخی دراجیو ګاندی دمړی دسوځولو په مراسمو کی نجیب ډیره هڅه وکړه چی دپاکستان له صدراعظم نواز شریف سره دده دملاقات شرایط برابر شی .نجیب غوښتل دهندوستان دبهرنیو چاروزارت له لاری دپاکستان د صدراعظم اودایران دجمهور رئیس له مرستیال سره دلیدنی کتنی زمینه ورته برابره شی ، خودغودواړومقاماتو له نجیب سره له ملاقات څخه دده وکره .
له بلی خوا ویل کیږی چی پاکستان کوشش کوی چی په پیښور کی ټول جهادی تنظیمونه په یوه پیاوړی اتحاد کی راغونډکړی داخبره دپاکستان دبهرنیو چارو وزارت یوه ترجمان اکرم ذکی له سعودی عربستان اوایران څخه درسمی سفر څخه له راستنیدو وروسته خبریالانو ته کړیده نوموړی زیاته کړی چی ډیر ژربه دافغانستان دکشالی دسیاسی حل پروسه بریالی شی .
دپاکستان دبهرنیو چارو وزارت یو بل افسر ریاض محمد خان پراچه هم ایران ته سفر کړی اوویل کیږی چی له ایران وروسته مسکو ته ولاړ.
شهریار خان خبریالانو ته ویلی چی ددغو ټولو خبرو اومذاکراتو محور دملګرو ملتونو هغه پنځه فقره ایز وړاندیز دی چی له یوی عبوری دوری څخه وروسته به په هیواد کی دازادو انتخاباتو زمینه او شرایط برابرکړی .
ویل کیږی چی پدی رابطه له سعودی عربستان ،ایران اوپاکستان پرته له جاپان او ځینو نورو هیوادونو سره هم تماسونه نیول شوی،ده زیاته کړی دپاکستان موقف دننی اوضاع له مخی نیول شوی موږ،پوهیږو چی شوروی له کورنیوړیږو اوستونزو سره مخامخ دی اونور نشی کولی دافغانستان دجنګ دروند او ملاماتوونکی بار پخپلو اوږو واخلی .
دامریکا متحده ایالاتو هم دتیری جمعی په ماښام پدی رابطه یوه رسمی اعلامیه خپره کړی اوپه هغی کی یی ویلی چی امریکا دملګرو ملتونوله پنځه فقرایزه پیشنهاد سره توافق لری اودهغی هرکلی کوی اوله همدی لاری کیدی شی ملګری ملتونه دافغانستان دکشالی په یوه سیاسی حل بری ومومی دملګرو ملتونو استازی ویلی چی ده پدی رابطه له پاکستانی اوایرانی مقاماتو سره خبری کړی اوهمدارنګه دځینو تنظیمونو له مشرانو اوافغانی شخصیتونو سره یی هم تفصیلی تماسونه نیولی دی .استازی په ډاګه کړی چی ده دپاکستان له جمهور رئیس غلام اسحق خان ،داکتر نجیب او انجنیر حکمتیار سره پدی رابطه خبری کړی خوانجنیر حکمتیار اواستاد سیاف ددوؤ اعلامیو له لاری له دغی طرحی سره کلك مخالفت اعلان کړی دی .
سیاسی مبصرین لیکی چی ډاکتر نجیب اوس دی ته حاضرشوی چی که په عبوری حکومت کی دده ګوند ته لږ برخه ورکړی شی هم دی پری راضی دی همدارنګه حکمتیار هم خپل پخوانی سخت دریځ شاته کړی دی .
خولدی ټولو سره سره که څوك دملګرو ملتونو دغی طرحی ته په غور سره وګوری اودهغی له ظاهر څخه دننه دهغی ترشا اهدافو ته نظر واچوی نودابه په ډاګه شی چی ملګری ملتونه غواړی له دی لاری دمجاهدینو دغوځ او
په ٦ مخ

داستعمار وروستی توطئه...

بشپړ بریالیتوب مخه ونیسی اودمجاهدینو دوروستیو فتوحاتو اوبشپړ پوځی بری په مخه کې دتوطئو اوسیاسی مانورو خنډونه ایجاد کړی .

دملګرو ملتونو سرمنشي پدې رابطه پخپله اعلامیه کې وایي په افغانستان کې دوروستیو خونړیو جګړو پراختیا اوشدت یو ځل بیا ماته ثابته کړه چې دجګړې دختمولو له پاره باید زیاتې هڅې او هلې ځلې وشي .

لدې څخه په ډاګه کیږي چې دملګرو ملتو سرمنشي اودهغه ولی نعمتان دمجاهدینو له وروستیو پرتمینو فتوحاتو څخه دومره ویریدلی چې غواړی اوس دهغی دمخنیوی لپاره ددیپلوماسی اوسیاست په تور بازار کې دناځوانمردانه اوغلچکیو بریدونو له مخی ودریږی .حالاتو اوتجربو ثابته کړی چې هرکله مجاهدین په پوځی سطحه کوم ستر بری اوتوافق ته رسیدلی ،استعمار دسیاست اودیپلوماسی مانوری پیل کړی اوهڅه یې کړی چې دغه بریالیتوبونه اوپرمختګونه پری سبوتاژ اودتکامل مخه یې ونیسی .

دنړیوال استعمار موجوده سیاسی مانوری دهغو توطئو یوه کړۍ ده چې دخوست له فتحی وروسته دمجاهدینو دوروستی اوغوځ بری دمخنیوی په مخه کې په لار اچولی اودیوی متحدی جنګی ستراتیژی په رڼا کې په هیواد کې دمتحدو اویو مخیزو بریالیو بریدونو دمخنیوی په لار کې تری دحربی په توګه کاراخلی .

پدې رابطه ددغه ډول سیاسی مانورو دپیل داوازو له خپراوی سره الحاج مولوی جلال الدین حقانی دیوه خبریال دپوښتنی په ځواب کې وویل : مجاهدین دملګرو ملتونو دسازمان په ګډون هیڅ بهرنی هیواد اوطاقت ته دافغانانو دسرنوشت دټاکلو او راتلونکی دتعین په رابطه دمداخلی اولاسوهنی حق نه ورکوی ، افغانان ددې توان لری لکه څنګه چې دجګړې په ډګر کې یې خپل قوت اوبرلاسی ثابته کړه همداسی په سیاسی ساحه کی هم خپله راتلونکی وټاکی .

له همدې ځایه ده چې په هیواد کې ټول جهادی قوتونه په یوه متحده جنګی ستراتیژی سلاشوی او دهغی په رڼاکې یې ستری اوپرتمینی فتحی په برخه شویدي .

حقانی صاحب زیاته کړی : زموږ یواځینی بدبختی داده چې زموږ جهادی تنظیمونه سره متحد ندي اوپه سیاسی برخه کې دواحد موقف اودریځ په غوره کولو ندي بریالی شوی له همدې ځایه ده چې استعمار ته په انقلاب اوداخلی چارو کې دلاسوهنو اوتوطئو زمینه برابره شوی که مجاهدین په یوه متحد نظامی اوپوځی دریځ توافق وکړی استعمار نشی کولی خپل ناولی اهداف پلی کړی.

الحاج حقانی په ډاګه کړی چې دروسانو اوداسلام ددښمنانو له خبرو اوپیشنهادونو څخه دخیرتوقع نده پکار او هغی ته انتظار اوامید دجهاد اوملت په تاوان تمامیږی موږباید له سره خپلو فعالیتونو ، نظم ، قوت اوصفوفو ته جدی پاملرنه وکړو ، ګډاوپاخه قدمونه پورته کړو ، متحد شو څکه چې دخدای نصرت اوفتحه په یووالی اواتحاد کې ده.

حقانی صاحب پدې ټینګار کړی چې دهیواد مخور ،سپین ږیری ، روشنفکران ، سیاستمداران، قوماندانان ،دتنظیمونو نمایندګان اودهری طبقی نمایندګان باید بیله کوم خارجی فشار څخه راغونډ شی اودخپل هیواد دراتلونکی په باب تصمیم ونیسی .

دوی یو ځل بیا په ټولو جهادی قوتونو غږ وکړ چې پدغو حساسو اوسرنوشت ټاکونکو شیبو کې نور فرصت له لاسه ورنه کړی اوداتحاد او یووالی په قوت سره داستعمار نفوذ اولاسوهنی مخه ونیسی حقانی صاحب یو ځل بیا غږ وکړ چې باید ټول مشران دشخصی اوګوندی اقتدارله هوس څخه دجهاد ،اسلام ،وطن او ملت په خاطر تیرشی که نه نو ددغو ټولو بدبختیو او مصیبتونو مسئولیت به دهغه چاپه غاړه وی چې پداسی خطرناکو اوحساسو شرایطو کی بیا هم دخپل اقتدار په خاطر له بهرنیو قوتونو سره تماسونه ټینګوی اوسازشونه کوی

ازاد خوست ته دحقانیه دارالعلوم ...

خوشحاله یم ، دخوست آزادی ستاسی دلوړهمت او پولادی ارادی ثمره ده هیله ده زما مبارکی او نیکی هیلی ومنی دخوست فاتح وفرمایل : زه ستاسی په راتلو او دافغانستان له آزادی سره ستاسی په علاقی خوښ یم . بیایې له لنډو خبرو وروسته وویل : دکویټ دآزادی له پاره ټوله نړی راولاړه شوی وه موږ هم د کویټ دآزادی پلوی وو او دامو هیله او غوښتنه وه چې کویټ آزاد شی خونړیوالومطبوعاتو دکویټ دتیلو او زرو په مینه او هوس په ټوله نړی کې یوه حیرانوونکی هنګامه جوړه کړی وه .

خوځنګه چې په خوست کې دتیلو ځاګان نشته که څه هم مساحت یې له کویټ څخه زیات دی خو بیاهم نړیوال پردیسورته هومره پاملرنه ونکړه څومره چې لازمه وه .

په داسی حال کې چې دکویټ په آزادی کې له امریکی سره ټوله دنیا ملګری وه خو دخوست په آزادی کې موږ دروس او دهغه دمتحدینو مقابله په یو-اځیتوب سره وکړه . پدې وخت کې مولاناحقانی ته دهغه سکرتر خبر ورکړ چې دنجیب مزدور رژیم پر کنړ دسکډ توغندیو حمله کړی او په سلګونو تنه یې شهیدان کړیدی .مولانا حقانی وویل

کله چې موږ دمولانا کوټې ته ننوتلو ګه ګورو چې یو ستر او عظیم جنرال اودملکونو زړونو بې تاجه پاچاه په یوه ډېره ساده ځایکي اویوه سپېره کوټه کې دحق دعظمت او جلال مشالونه بل کړي اوالله تعالی په دربار کې په ډېره عاجزۍ دقران کریم په تلاوت مصروف دي.

داد مزدور رژیم یو ډیر بزدلانه جنایت او حرکت دی دادروسانو یو بل نه بښونکی جرم دی په کارده چې په ټوله نړی کې ددې پرخلاف داحتجاج غږ پورته شی،دوی وویل موږ دنجیب رژیم ته اعلانوو چې پداسی بزدلانه حرکتونو نشی کولی دخپل محتوم شکست مخه ونیسي.

مولاناانورالحق پوښتنه وکړه چې دپاکستان تجویز او دخوست دجګړی په رابطه دځینو شخصیتونو موقف څنګه ارزیابی کوئ؟ حقانی صاحب وویل: دایران ،روس او امریکایو ګډ پلان دادی چې په افغانستان کې دنجیب ترمشری یو مخلوط حکومت جوړ کړی بیا انتخابات وشی پدې ډول مجاهدین کمزوری کړی شی خو پدې رابطه له قوماندانانو سره څه خبری ندي شوی کیدی شی له ځینو سیاسی لیډرانو سره خبری شوی وی .

پرخوست دعملیاتو په رابطه ښایی ووایم چې ځینی لیډرانو ددې مخالفت کاوه هغوی ویل چې دمجاهدینو اقتصاد کمزوری دی امریکا هم دمجاهدینو له مرستی لاس اخیستی دخلیج جنګ هم له مجاهدینو سره دبهرنی مرستی په مخه کې خنډونه ایجاد کړیدی په داسی حالاتو کې که پر خوست حمله وشی نو دجلاآباد دجګړی په څیر به دمجاهدینو په زیان تمامه شی - هغوی په خوست کې دقوماندانانو دګډی حملی مخالفت کاوه خو زماامید دی چې اوس به هغوی پخپل نظر بیا کتنه کړی وی .

حقانی صاحب دراتلونکی په باب وویل : موږ ته دګردیز ، غزنی ،جلاآباد او کابل فتحه کول په مخه کې دي روس هلته دخپل مزدور رژیم قطعات ښه ډیر تقویه کړی دي دورځی ۸۰ الوتکی له روسیی څخه دغو ځایونو ته وسلی او مهمات رارسوی خو تاسی ولیده چې خوست دروسی الوتکو هدیره جوړه شوی دخوست په فتحه کیدو الله تعالی پر موږ ډیر زیات احسان وکړ مجاهدینو ته ډیره زیاته وسله په لاس ورغله چې په نورو جګړو کی تری اغیزمنه استفاده کولی شو .

موږ په افغانستان ...

ؤ په لاره کې مجاهدینو پرهغوی دومره حملی وکړی چې دهغوی څخه یواځی شل موټر سره دځینو پوځیانو پلخمری ته راورسیدل ، په دې شل موټرو کې سپاره افراد هم یاټپیان شوی ؤ یا هم سخت ویریدلی ؤ ، دجنګیدلو روحیه یې نه درلوده ، په دې جګړه کې چې محمد دین دروسانو کومه وارخطایی اوماته ولیده یقین یې وشو چې دمجاهدینو سره کومه غیبی مرسته شته اودنړی هیڅ طاقت هغوی نشی مغلوبولی تردې وروسته ده لیدلی ؤ چې روسان به په خپلو مرکزونو کې هم پټیدل اوځانونه به یې په امن کې نه بلل ، دهغوی الوتکی اولری ویشتونکو توپونه به شپه او ورځ په بمباری بوخت ؤ خو دمجاهدینو په ویرولو کې نه بریالی کیدل .

دخان دراتلونکی په باب پخوانی نیکولای وایی : « زه اوس روسی ته دتګ اراده نلرم ځکه روسی ته په تګ سره نه غواړم « کی ، جی ، بی » سره مخامخ شم که له ماڅخه وپوښتل شی چې مخکی تردې چې مجاهدین دی ونیسی ولی دخان نه واژه ؟ زه نشم کولی دې پوښتنی ته ځواب ورکړم ، روسی پوځیانو ته داسی ویل کیدل که دمجاهدینو ترمحاصری لاندی راغلل په هیڅ صورت وسله پرځمکه کی نه نږدی اوکه دنیول کیدو خطروء په خپله دځان ووژنی ، په دې ډول به دټپیانو په باب هم ویل کیدل چې که دکوم ټپی اویا نیول شوی پوځی راخلاصول دمجاهدینو څخه ممکن نه ؤ هغه مخکی تردې چې مجاهدین ونیسی په خپله دی وولی ترڅو مجاهدین له هغوی څخه پوځی راز وانخلی »

محمد دین په قوی ارادی سره وایی « زما ژوند اومرګ له مجاهدینو سره دی زه دهغوی سره داسلام په مقدسه جګړه کی ترشریکیدو وروسته ځان شهیدول غواړم ».

نور بیا

داسلامي ثقافت ددعوت مرکز کې د...

ابو السعود دمشر میلمه په توګه پکې برخه درلوده دغونډې په پیل کې دمرکز مشر ډاکتر محب الله وحدتي له حمد اوثنا وروسته په لاندې ټکو کې وویل :

دامرکز له دووکلونو راپه دې خوا دیو شمیرمجاهدو افغانانو له خوا له پوره بحث اومطالعې وروسته تاسیس شوي له دغه مرکز هدف داسلام په رڼاکې په اجتماعي ، سیاسي ،زراعتي ، اقتصادي او... برخو کې افغانستان ته خدمت اودپرمختګ اورشد په لارو چارو غورکول اودهغې لټول دي .

دډاکتر وحدتي له خوا دډاکتر ابوالسعود له معرفي وروسته په خپله نوموړي ستیج ته وبلل شو اوپه خپله وینا کې وویل :

وروتو :

افغانستان دطبیعي منابعو اوشتمنیو له اړخه ډیرغني دي که څه هم په جنګ کې زراعتي ځمکې شاړې اوله کرڅخه پاتې دي خودکار او تنظیم له لارې ددې ډیر زیات امکانات موجود دي چې ډیر ژر دغه ځمکې دکر اواستفادې وړوګرځې وړپسې محترم حضرت صاحب محمد هاشم مجددي لنډې خبرې وکړې اووېې ویل:

زموږ نني میلمه ډاکتر محمد ابوالسعود دي چې له افغانستان سره ډیره زیاته مینه اوعلاقه لرې ده کلونه په کابل کې دحقوقو په پوهنځي کې تدریس کړې اودادې دوهم ځل دي چې پیښور ته راغلي نوموړي په اسلامي اقتصاد کې تخصص لرې اوپه دې رابطه بکر اوابتکاري نظریات لرې چې له قران اواسلامي اصولو څخه یې اخذ کړي دي .

مجددي وویل :

مرکز الدعوة للثقافة الاسلامیه باید دافغانانو ترمنځ دوحدت لپاره خپل فعالیتونه ګړندي کړي ځکه اختلاف دتباهۍ اوناکامۍ باعث دي اوموږاوس له پخوا زیات وحدت او یووالي ته ضرورت لرو .

لدې وروسته حاضرینو خپل سوالونه مطرح کړل چې ډاکتر ابوالسعود له خوا یې ځوابونه ورکړل شول غونډه دماښام له اذان سره پاي ته ورسیده .

دتخار ولایت ددرقد سرحدی علاقه داری فتح شوه

تخار ، دثور ۳۱ مه :
په پیسبور کی دقوماندانانو دشورا نظامی دفتر زموږ خبریال ته رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دافغانستان په شمال دشوروی پولی ترڅنگ ددریای اموپه غاړه ددرقد علاقه داری دکابل رژیم له قواو ځخه دیوی حملی په نتیجه کی دثور په ۳۱ مه نیته فتح کړی .

رپوټ زیاتوی چی مجاهدینو ته پدی نښته کی ددرقد علاقه داری ۵۰۰ تنه عسکر اوملیشه دټولو وسلو اونظامی مهماتو سره تسلیم شوی اومجاهدینو ورته داسلامی عفوی له مخی پناه ورکړی ده.

خبر ځای زیاته کړی چی دخواجه غار ولسوالی دمرکزونو له فتحی وروسته دادوهم مرکز دی چی د تخار ولایت مجاهدینو لاس ته ورغلی خودرژیم په پاتی سنگرونو جگړه دوام لری .

په رپوټ کی دمجاهدینو او ددښمن دتلفاتو دقیق شمیر ندی ذکرشوی.همداراز په پیسبنور کی دتخار ولایت دمجاهدینو یو خبر ځای میدیا ته رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دثور دمیاشتی په ۲۹ نیته په گډه سره دخواجه غار مرکز له فتحی وروسته دکابل رژیم ددشت قلعی دولسوالی پرپوستو باندی سخت بریدونه پیل کړی اودرژیم قواو ته یی درانده مالی اوځانی تلفات رسولی او دسختی ماتی او وارخطایی سره یی مخامخ کړی دی .

درپوټ مطابق مجاهدینو پدغه پراخو بریدونو کی چی تراوسه دوام لری دکابل رژیم ۱۱ تنه ملیشه د۱۱ میله گرینوف ماشیندارو سره ژوندی نیولی دی.

دیو بل خبر له مخی دکابل مزدور رژیم دخواجه غار ولسوالی له فتحی وروسته دغه سیمه ترخپل شدید هوایی اوځمکنی بمباردمان لاندی نیولی ، رپوټ وایي چی مزدور رژیم دثور په ۳۰ نیته پدی سیمه څلور سکله توغندی ویشتلی دي ، چی دمجاهدینو ځینی سنگرونه او دمحلی خلکو هستوگنځی یی وران کړی دقوماندانانو شورادنظامی فتر دراپور مطابق ددی حملو په ترڅ کی تراوسه دمجاهدینو اوکلیوالو څخه ۲٦ تنه شهیدان او ۲۰ کسه ټپیان شوی دی .

فرارمقامات حزبی ودولتی رژیم کابل ادامه دارد

دوتن ازمعینان وزارت های تجارت وهوانوردی وتوریزم ومدیر ریاست خاد (٤٥) مربوط صدارت رژیم کمونیست کابل به فراریان حزب کمونیست کابل پیوستند .
همچنان تعدادی از هنرمندان وآوازخوانان رادیوکابل نیز ناچار شدند تا بالاخره به اثر مظالم عمال رژیم ترک وطن نمایند .
خبرنگار (میدیا) ازکابل گزارش میدهد ، افراد مذکور اخیراً به هندوستان گریخته که دراینده ازان جابه کشور های غربی وامریکایی پناهنده خواهند شد .
خبرنگار ماازقول منابع موثق درکابل خبر میدهد ، برعلاوه افراد سرشناس حزب کمونیست کابل ، تاکنون بیش ازدوصد نفر ازپرسونل کاری حزب وتعدادی ازهنرمندان ازطریق پاسپورت کشور راترک گفته اند .

دهند دپخواني صدراعظم راجیو گاندي مړی وسوځول شو

نوی ډیلی - د ثور ۳۱مه
دهند پخوانی صدراعظم او دهغه هیواد دخورامقتدر او مشهور گوند «اندراکانگرس» مشر راجیوگاندی د انتخاباتی مبارزی په جریان کی دیوه زور ور بم دچاودنی له امله ووژل شو .
رپوټونه وایی چی دغه پیښه دسه شنبی په شپه هغه وخت منځ ته راغله چی راجیوگاندی دهند دتامیل نادو په ایالت کی دمدراس ښار ځخه (۵۰) کیلو متره لری په یوی انتخاباتی جلسی کی له وینا مخکی دخپلو پلویانو او طرفدارانو څخه د گلو گیډۍ او شالونه دتحفی په ډول تر لاسه کول .
دابتدائی تحقیقاتو په ترڅ کی ماهرینو او کارپوهانو داسی نظر څرگندکړی چی دغه چاودنه دکمپیوتری بم په واسطه ترسره شوی چی له لری ساحی ځخه کنترول کیده .
که څه هم ددغه چاودنی مسئولیت چی پر راجیوگاندی سربیره (۱۲) کسان نور هم پکی وژل شوی چاپه غاړه ندی اخیستی خوهندی مقاماتو داسی خیال څرگند کړی چی دغه چاودنه به دتامیلی چریکانو دیوه آزادی غوښتونکی سازمان «تامیل پړانگانو » له خوا تر سره شوی وی . ولی د «تامیل پړانگانو » دهند دحکومت دغه ادعا ردکړی ده .
راجیوگاندی دهند دپخوانی صدراعظمی «میرمن اندراگاندی » زوی ؤ . چی په ۱۹۸٤ کال کی د سکانو له خوا دنومورړي دوژنی ځخه وروسته یی د کانگرس گوند مشری او دهند صدراعظمی ترلاسه کړه . خو د ۱۹۸۹ کال په انتخاباتو کی دهغه گوندونشوکړای چی اکثریت ترلاسه کړی .
راجیو گاندی دهند په روانو انتخاباتو کی دبری دتر لاسه کولو لپاره په خورا شدت کار کولو او ځای ځای یی دخپل گوند په انتخاباتی جلسو کی گډون کولو .
خبر ونه وایی چی د «٤٧کلن» راجیوگاندی ترمړینی وروسته دکانگرس گوند مرکزی شورا دیوې اضطراری غونډۍ په ترڅ کی دهغه میرمن ایټالوی نژاده « سونیاگاندی » دکانگرس گوند دمشرۍ په توگه وټاکله خو نومورۍ ددی عهدی له منلو څخه سرغړولی .
دراجیوگاندی مړی دلیدلو لپاره دری ورځی دهغه دهستوگنی په کور کی ایښودل شوی ؤ .چی دجمعی په ورځ (دجوزا په څلورمه نیټه)دهندی مذهب درسم مطابق دهغه جسد ته اور ولگول شو.
دهند دپخوانی صدراعظم په وروستیو تعزیتی مراسمو کی دنړۍ دبیلابیلو هیوادومشرانو او لوړ رتبه هیئاتو نو گډون کړی ؤ په هند کی دده د مړینی په خاطر اووه ورځی ملی ماتم اعلان کړای شو او روان انتخابات دیوی مودی لپاره وځنډول شول.

هندوئیزم داسلام ...

عامو وژنو اوځوررولو نه اصل هدف څه دی ؟ همدارنگه دباېری جومات مسئله هم جوته ده چی دهنداونو له ناروا اوظالمانه عزایمو نه پرده پورته کوی .
دهندوانو زیات افراطی سازمان ، ار ایس ، ایس ددیوراس په مشری په همدغه منظور جوړشوی دی چی په هند کی دمسلمانانو جرړی له بیخه وباسی او ددغه هیواد (۸۰) ملیونه مسلمانان ټول له منځه یوسی دیوراس وایی چی زموږ سازمان دیوه دغسی هندوستان دجوړیدو لپاره پراخه پروگرامونه په لار اچولی دی چی په هند کی یوازی هندوان وی ، داسلام نوم باید له منځه ولاړ شی که نه نو هندوان به له منځه ځی اوهند به په بل پاکستان بدلیږی .
دغه افراطی مذهبی سازمان چی له سیاست نه ظاهراً گوښه دی په حقیقت کی دافراطی سیاسی پارټیو د متفکره مغز اولارښوونکی حیثیت لری چی ټول رهبران یی پټی مشوری ددغه سازمان څخه اخلی .
دیوراس وایی چی موږ دمسلمانانو په منځ کی داپروپاگند خپرو چی له هندوانو سره ددوستی اړیکی ټینگی کړی خصوصا مسلمانو پیغلو ته ددی تلقین کوو چی له هندوهلکانو سره واده وکړی او موږ په دی توانیدلی یو چی په زرگونو تنه نجونی له هندوانو سره واده ته چمتو کړو ، خو په ملیونونو کسانو کی یوازی دڅو زرو تنو دی کار ته حاضریدل ددی معنی نه لری چی موږ پرخپل مرام بریالی یو خو داده ضروریو چی زموږ هلی ځلی به نتیجه ورکوی او یو وخت به زموږ «منحرف !!» وروڼه بیرته هندو ئیزم ته رجوع کوی .
ددغه افراطی تنظیم غړی عقیده لری چی په هند کی چی څوك اوسیږی هغوی ټول هندوان دی نو مسلمانان یا عیسویان باید ځانونه هندوان وگڼی دهند مسلمانان چی ځانونه هندوان وبولی هم لمنځونه کولی شی داخترونو اومحرم مراسم پرځای کولی شی خو ددینی فریضو په نوم نه،بلکی دثقافت اوکلتور په نوم ځکه داددوی روایات اوعادات دی .
ددوی په عقیده له هندوانو پرته په هند کی بل چاته داوسیدو اجازه ورکول دبل پاکستان دجوړیدو اودهند دله منځه تللو په معنی دی او دهند (۸۰) په سلو کی هندوان نور مسلمانانو ته ددی اجازه نه ورکوی چی ځانگړی تشخص ولری ، هند دهندوانو ټولنه اوهیواد دی او دلته (۸۰) فیصده هندوان ترهغو پوری په خوښی ژوند نشی کولی چی دلږ کي «اقلیت» مسلمانانو او نورو مذاهبو پیروان یی په څنگ کی وی.
دی هدف ته درسیدو لپاره باید لومړی دمسلمانانو اقتصادی مرکزونه اوکاروباری ځایونه له منځه یو وړل شی ترڅو مسلمانان محتاج اوپه غربت اخته شی ، له بلی خوا دهنددمسلمانانو په زړونو کی دپاکستانی ولس سره نفرت اوکینه باید راوپارولی شی ترڅو دوی له بهرنی نړۍ نه یی اړیکو پاتی شی .
داوی دیوه افراطی هندو سازمان دمشر څرگندونی چی باید مسلمانان عبرت ورڅخه واخلی ، په هند کی دمظلوموسلمانانو داوسنی وضعیت په باب دنړۍ ټول مسلمانان مسؤلیت لری، دراجه داهر له زندان نه دیوی مسلمانی پیغلی ناهید فریاد دبغداد په دارالخلافه کی لړزی جوړوی دمحمد بن قاسم په مشرۍ هند ته دنجات او اسلام لښکر استول کیږی خوافسوس چی نن په هند کی هره ورځ او هره لحظه دمظلومو مسلمانانو فریادونه اسمانونه لړزوی خومسلمان هیوادونه دغفلت ، لتی او بی پروایی په خوب ویده دی ، ان چی له مسلمان وژونکو هندوانو سره ددوستی او اشنایی پرشعارونو فخر کوی کاشکی نن بیا یو محمد بن قاسم ، یو غزنوی سلطان محمود یو احمد شاه ابدالی اویو سلطان شهاب الدین غوری راپیدا شی او دسند ، سومنات ، پانی پت .... دفتحو اواتلولیو پیښی تکرار کړی .

مجاهدین طی یک عملیات وسیع بیش از (۱۰) پوسته ...

تن عسکر به هلاکت رسیده و(۲۰) تن دیگر از منسوبین نظامی رژیم زخمی گردیدند .
خبر می افزاید طی این عملیات که بااستفاده ازسلاح های سبک وسنگین انجام گرفت ازقرارگاه های مفتوحه رژیم مجموعاً یك عراده تانك زرهی ،یك میل زیکویك (۲۲) میل ماشیندار خفیف ، یك میل دهشکه ، با(۵۰)صندوق مرمی ان ، یك میل ماشیندار ثقیل ، یك میل هاوان وسط با(۸۰۰) فیر مرمی ان یك میل راکت انداز (ار ،پی ،جی ۷) ،(۵۰۰) فیرمرمی توپ،(٦) صندوق بم دستی ، (٤۰) صندوق مرمی کلشینکوف وگرینوف وصد فیر راکت ضد تانك به غنیمت مجاهدین درامده است .
طبق یك خبردیگر مجاهدین به تاریخ ۱۸و۱۹ ثور بالای پوسته های امنیتی میدان هوایی شهرکندز یك حمله راکتی نموده که درنتیجه یك پوسته کمربند امنیتی میدان هوائی ویك پوسته دیگر درمنطقه عمرخیل فتح گردیده است .
خبر می افزاید دراین عملیات شش نفر ازنظامیان رژیم کمونست باسلاح های دست داشته شان به مجاهدین تسلیم شدند .
همچنان یك منبع جهادی کندز راپورمی دهد که مجاهدین درشاهراه بین کندز وشیرخان بندر (که درمرز روسیه واقع است)بتاریخ ۲۸ ثور برپوسته های رژیم حمله ورشدند که درنتیجه ٤ پوسته ملیشه درمنطقه مذکور فتح ۸ تن از افراد ملیشه اسیر ، یك عراده تانك زرهدار ، یك عدد ماشیندار خفیف،۲۷٦ میل کلاشینکوف ، ویك اندازه مهمات نظامی برغنیمت درامد.
به همین گونه دریك خبر دیگرامده است که مجاهدین بتاریخ ۲۵ ثور بالای میدان هوایی کندز حمله راکتی انجام دادند که ۳۵ تن از افراد رژیم رابه هلاکت رساندند .

داستعمار وروستۍ توطئه دملګرو ملتونو ...

کې ددغو هيوادونو له مشرانوسره دخپلې طرحې او وړانديز په رابطه خبرې کړي اودهغوی موافقې يې ترلاسه کړي دي .

شهريار خان پخپله مطبوعاتي کنفرانس کې چې دنوازشريف مطبوعاتي مشاور هم حاضر ؤ داهم وويل چې دافغانستان دړېړې دحل په رابطه زيات پرمختګ شويدی اوپدی اړه سعودی عربستان اوايران ته دملګرو ملتونو خاص استازي بينن سوان ځانګړې سفرونه کړي دي .

پدی اړه د. خپروشويو خبرونو اوتبصرو له دقيقې کتنې څخه څرګنديږي چې دملګرو ملتونو دسرمنشي په خوله اعلان شوی وړانديز دروس ـ امريکا دخوښې،له امله پېښه شوی اودوی ليږداوبنکاره سياسي سودا بازيو له امله ورسره ځينو نورو هيوادونو هم رضايت ښودلی دی،له همدې ځايه ده چې دکابل دمزدور رژيم له خوا هم ددغه طرحې دمنلو اوهرکلي اعلان شويدی .

خو حقيقت دادی چې دملګرو ملتوداطرحه څه داسې نوی اړخونه اومواد نه لري چې هغه دې دقضيې دواقعي حل په جهت ګټور ثابت شي بلکې داوړانديز دنجيب په اصطلاح دملي روغې دهغې زړې ډرامې تسلسل دی چې داځو کاله دهغه دنلوری ضيول کيږی پدی رابطه دمقاومت په سطحه که له يوی خوا په مجموعي توګه دملګرو ملتونو له دغې طرحې سره مخالفت ښکاره شوی،نوله بلې خوا دځينو تنظيمونو دمشرانو ژوړلي اظهاراتو داانديښني پيداکړيدی چې کيدی شي پدی هکله دځينو پټو اوښکاره تماسونو اوسازشونو اوازی له حقيقت څخه ډيری ليری نه دي .

پدی رابطه دهغو پټو اوښکاره تماسونو اوازی يادولی شو چې له ډيری مودی راپديخوا دمختلفو حلقو اوځينو تنظيمونو له خوا په بيلا بيلو سطحو په مستقيم اوغير مستقيم ډول له روس اودنجيب له مزدور رژيم سره په لاړ اچول شوی دي .

پدی هکله دفلسطين دياسرعرفات اودلېبيا دمعمر القذافي سره ددوو تنظيمونو وروستي تاوده روابط او دهغوی له لاري ديو ډول تماسونو ټينګول دغه وړانديښني نوری هم تقويه کوي .

له همدی ځايه ده چې دعبوری حکومت دکورنيو چارو وزير محترم مولوی محمد يونس خالص له وزارت څخه دخپلې استعفی يو دليل داوړاندی کړی چې پير سيد احمد ګيلاني له نجيب او استاد رباني له روسانو سره يو لړ تماسونه نيولي اوخبری يې ورسره کړيدی .

همدارنګه دپاکستان پوځی مقاماتو اودکابل رژيم دلوړ رتبه جنرالانو ترمنځ په ژنيو کې داړيکو اوخبرو اوهمدارنګه مسکوته دقاضي حسين احمد دسفر په رابطه هم تاوده خبرونه خپاره شوی دی .

لدی سره دکابل دمزدور رژيم صدراعظم فضل الحق خالقيار څرګنده کړی چې استاد رباني له ده سره دخپرو له پاره چمتووالی څرګند کړی ، خالقيار داستاد رباني په هغه مرکه استناد نيولی ؤ چې له بی بی سی راډيو سره يې کړې وه او ويلی يې ؤ ، دی حاضر دی چې دکابل په ائتلافي حکومت کې له غير کمونستي عناصرو سره ملاقات وکړي،خو پدی شرط چې هغوی درژيم نمايندګي ونه کړي.

دخالقيار دادعا داستاد رباني له خوا په کلکه رد کړی شوه اوويې ويل دنجيب رژيم دموجوديت په صورت کې اوړيدهيڅ معنا اوامکان نلري .

دمجاهدينو شلوو مشران چې داوخت په ايران کې دي له هغې نه حضرت صاحب صبغت الله مجددی اوپير

په ٥ مخ

په دوشي کې يو جنرال ، درې مليشه يي قوماندانان او ٢٦ تنه مليشه هلاک شول

بغلان ، ميډيا :

مجاهدينو دبغلان ولايت په دوشي ولسوالی کی دکابل رژيم يوی حملي راوړونکې قوی ته ديوه جنرال اودرې مليشه يي قوماندانانو او ٢٦ تنو مليشو په وژلو سره سخته ماتې ورکړې ده .

دميډياد رپوټ پهحوالدرژيم هغه حمله راوړونکې قوه چې دبغلان ددوشي ولسوالی دکړو اوخواجه زيد دمجاهدينو په مرکزونو اودسيمې دوګړو په کورونوباندې يې دثور په ٢٥ مه نيټه ترسره کړه دمجاهدينو دسخت مقاومت په نتيجه کې په شا تمبول شويده .

رپوټ زياتوی چې مجاهدينو دکابل رژيم دتعرضي قواو څخه په دغه حمله کې دپلخمری د(٨٠) فرقې دکشف مسؤل جنرال شاه محمود اود(٥١٣) غونډ مربوط دوه دمليشي قوماندانان علاوالدين اوقوماندان غلام فاروق اودفرقې داستحکاماتو مسئول انجنير معراج الدين د(٢٦) تنو مليشه وسره وژلي اويوشمير نوری ټپيان کړيدی .

پدغه جګړه کې چې تراوسه دوام لري دجمعيت اسلامی قوماندان ګل رحمان دشهادت او(١٠) تنو نوروممجاهدينو دټپې کيدلو اوديوشمير کوږنو دتباه کيدلو اطلاع ورکړل شويده .

دتخارولايت د«ينګي قلعه» ولسوالی هم فتحه شوه

تخار ، دجوزا ٦ مه :

دهغه رپوټونو په اساس چي دتخارولايت دجهادي سنګرونو ځخه رارسيدلي ويل شوي چي ددي ولايت باتورو مجاهدينو دخپلو پرله پسي فتوحاتو په لړکي تيره ورځ ددي ولايت دينګي قلعه ولسوالي هم فتحه کړه .

ددي فتحي په لړ کي دمزدور رژيم قواو ته درانده تلفات واوښتي چي دقيق شمير يي تراوسه ندي معلوم .

درپوټ مطابق ددي ولسوالي په فتحه کيدو سره په تخارکي دکابل دمزدور رژيم وروستي ځاله‌له منځه لاړه .

دمجاهدينو دبريدونو په ترڅ کې دسمنګانو والي ټپي شو

سمنګان ، ميډيا :

دسمنګانو ولايت دجهادی منابعو درپوټ له مخې ويل شوی چې مجاهدينو دثور په ٢٢ مه نيټه ددی ولايت پهمرکز دايبکو په ښار باندی بريد وکړ چې دهغې په نتيجه کې دولايت والي عبدالصمد سخت ټپي اودعلاج لپاره مزار شريف ته انتقال شو .

ويل شوی چې ددی بريالي بريد په نتيجه کې ددښمن يو شمير نقليه وسايط ويجاړ او کم ترکمه ٣٨ کسه وسله وال عسکر اومليشه وژل شوی .

ديوه بل خبر له مخې دسمنګانو ولايت باتورو مجاهدينو دثور په ٣٠ مه نيټه ددی ولايت دتخت رستم پرپوستو باندی بريد وکړ چې دهغې په نتيجه کې دکابل رژيم يوه پوسته فتح ، څلور تنه مليشه وژل شوی ، څلور تنه نور ژوندی نيول شوی .

همدارنګه مجاهدينو يو ميل سپکه ماشيندار اوه ميله کلاشينکوفونه او يو شمير مهمات دغنيمت په توګه نيولی دی .

دهيئت تحرير ترنظر لاندي

مکاتباتي پته

پوسټ بکس (١٠٣٣)

يونيورسټي ټاون پيښور

تيلفون : ... (٨١٢٢٥١)

مجاهدينو دبګراميو اوپغمان ولسواليو کې درژيم ٢١ تنه پلويان وژلي

دقوماندانانو شورا نظامی دفتر دجهاد هنداری خبريال ته دکابل ولايت څخه دراډيويي پيغام په حواله رپوټ ورکړی چې مجاهدينو دثور په ٢٧ مه نيټه دکابل ولايت دبګراميو دولسوالي دچکړي په سيمه کې درژيم په قواوباندی ددرندو وسلو په يو بريد سره درژيم ١٥ عسکر وژلي،٥ عرادی نظامی بار وړونکې موټراو ٢ عرادی ټانکونه يې ويجاړکړی دی .

درپوټ مطابق په دغه بريد کې دمجاهدينو څخه ٥ تنه ټپيان شوی دی .

نوموړی دفتر دپغمان څخه دراډيويي پيغام له مخې ويلي چې مجاهدينود ثور په ٢٦ نيټه په پغمان کې درژيم په پوستو ديو تعرضي بريد په ترڅ کې ٥ عسکراو يو منصبدار وژلي دي .

رپوټ وايي چې په دغه بريد کې درژيم ددرندو وسلو يوه دستګاه دمجاهدينو په ډزو تخريب اوله منځه تللی ده .

اسرائيلو دلبنان له خوا دبنديانو دتبادلې دپيشنهاد هرکلی کړی

دلبنان دحزب الله نوی مشر شيخ عباس محسني وايي ، دی غواړي دوه تنه اسرائيلي عسکر دهغو دری سوه عربي بنديانو سره چې په اسرائيلو کې بيسار دی ، تبادله کړي .

شيخ محسني زياته کړی چې حزب الله نور شرايط هم لري خوپدی باب يې نور تفسير ورنه کړ.

درپوټ له مخې حزب الله له ډيره وخته دشيخ عبدالکريم عبيد چې اسرائيلو په ١٩٨٩ م کال کې تښتولی دی ، دخوشې کيدو غوښتنه کړيده داسرائيلو په اعلاميه کې څرګنده شوی چې اسرائيل تيار دی څو شيخ عبيد اونور عربان خوشې کړي،مګر زياتوی چې حزب الله بايد داخبره ثابته کړی چې اسرائيلي بنديان ژوندي دی او دهغو کسانو نومونه دی وښيي چې خوشې کوی يې .

داسلامي ثقافت ددعوت مرکز کې دمحاضري غونډه

دمرکز الدعوه للثقافة الاسلاميه له خوا دروان کال دغبرګولي د مياشتي په شپږمه نيټه دمازديګر په شپږو بجو د(داسلام په رڼا کې د افغانستان له ځمکو نه دحاصلاتو اواقتصادي استفادې) ترعنوان لاندې د محاضرې يوه غونډه جوړه شوې وه چې دعالم اسلام مشهور اقتصاد پوه ډاکټر

٦ مخ

په لوګرکې درژيم دوه پوستې ويجاړې شوې

لوګر ميډيا :

مجاهدينو دلوګر په ولايت کې دکابل رژيم ددوونوی ځای په ځای شويو پوستو ويجاړولو اوديوولس تنو ګليم جمع مليشو په وژلو سره ددښمن په قواوباندی خپلو بريدونو ته دوام ورکړيدی.

دمجاهدينو يو خبر ځای ميډيا ته خبر ورکړی چې مجاهدينو دثور په ٢٧ نيټه دلوګرولايت دتنګی واغجان اوديابوس په دشته کې درژيم په پوستو باندی ددرندو وسلو څخه په استفادی سره يو لړ عمليات ترسره کړل ، چې په نتيجه کې دملحد رژيم دوه پوستې فتح او يوولس ګليم جمع مليشه هلاک اوڅلور تنه نور يې ټپيان شويدي .

خبرزياتوی چې په دغه عملياتو کې مجاهدينو درژيم دمليشو څخه ٩ ميله کلاشينکوفونه اويو ميل هاوان په ولجه نيولی دی .

خبرتيا

درنو مجاهدينو ، مهاجرينو اوانصارو ورونو !

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

په ډير درناوي سره خبر درکوو چې :

تاسي کولی شئ دمجاهد غږ راډيو خپروني فعلاً دورځې دوه نيم ساعته په لاندې وخت او څپو واورئ:

لومړۍ دسهارنۍ خپرونه :

دافغانستان په وخت دسهار له پنځه نيمو بجو څخه تر شپږ نيمو بجو پوري.

دوهم دمازديګرنۍ خپرونه :

دافغانستان په وخت دمازديګر له شپږ بجو اوپنځه څلويښت دقيقو څخه دماښام تر اتو بجو اوپنځه لسو دقيقو پوري .

څپې :

په منځني څپه ميډيم،(١٢٠٠) کيلو هيډز اوپه لنډه څپه ،شارټ (٣.٢) ميګاهيډز چې له (٩٠) متره بانډ سره سمون خوري او٨ . ٥ ميګاهيډز چې له ٤٩ متره بانډو سره برابره ده .

مکاتباتي پته : پوسټ بکس نمبر(١٠٣٣) يونيورسټي ټاون پيښور

(دمجاهدغږراډيو دلوي مديريت له خوا)

تسليمي ٢٠ فروند طياره ميګ ٢٩ به رژيم کابل

خبرنګار ميډيا که تازه از کابل به پشاور بازګشته است خبرداده است که : روسها طبق وعده قبلی تحويل طيارات نوع جديد به رژيم ٢٠ فروند طياره جنګی ميګ ٢٩ را تسليم رژيم نموده که ګفته ميشود بزودی درجبهات جنګ عليه مجاهدين بکار ګرفته خواهد شد .

خبرنګار از قول منابع اګاه نظامی درکابل می افزايد که قرار است ٢٠ فروند طياره ديګر نيز از نوع پيشرفته تر درآينده نزديک به رژيم دست نشانده درکابل تسليم داده شود .

خبرنګار ميډيا همچنان خبر ميدهد که بدنبال سقوط خوست بدست مجاهدين،پرواز طيارات بزرګ ترانسپورتی از ١٢ به ٢٤ پرواز درروز افزايش يافته است .